# بُست

## علمي او څېړنيزه مجله

| کال | ګڼه | ټوک |
|---|---|---|
| ۱۴۰۲ | لومړۍ | دوهم |

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دوهم ټوک – لومړی ګڼه**

**کال ــ ۱۴۰۲**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسؤل مدیر:** پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصری

**کتنپلاوی:**

⇐ پوهندوی رضوان الله مملوال
⇐ پوهنمل عبدالعزیز صابر
⇐ پوهنمل عبدالولي هجران
⇐ پوهنمل حنیف الله باوري
⇐ پوهنیار عبدالولی همت
⇐ پوهنیار بشیر احمد بابا زوی
⇐ خان محمد وفا
⇐ ډاکټر ذبیح الله انوری
⇐ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
⇐ پوهنوال دوکتور خال محمد احمدزی
⇐ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
⇐ پوهندوی دوکتور علی احمد
⇐ پوهنمل دوکتور عبدالوهاب حکمت
⇐ پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري
⇐ پوهندوی نیاز محمد زاهدي

**ډیزاین:** د بُست پوهنتون دخپرنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۲

پته: بُست پوهنتون، لښکرګاه،هلمند، افغانستان

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یوازې خپل محصلان د پوهې په گاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسي څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولني د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډگر کې د گټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارگان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څیړنیزي مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښیښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسي مسائل را برسیره شي، چې نه یوازې په پوهنتون پورې راگیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانکړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزي ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یوازې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمي او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څیړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې گرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څیړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډگر کې چې وي، یو خپرنیز ارگان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څیړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمې مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څیړنې له محترم آمر او همدا رنگه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په گاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینگ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنگین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

# سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې يې يو بل ډېر مهم او اړين ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څېړنيزي مجلې د دوهم ټوک، لومړی ګڼه خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مينه والو ته د بُست د علمي او څېړنيزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتيبولو او خپرولو کې يې نه ستړې کېدونکې ونډه اخيستې ده د زړه له کومي مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده او پوره باور لري چې د نننۍ نړۍ هر اړخيزه پر مختګ د پوهانو د علمي څېړنو د زيار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکاډميک انستيتوتونه او څېړنيز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پريکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډميکو نورمونو په رعايت د تدريس، علميڅېړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي او د معياري تحصيلي اسانتياوو او زمينو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معياري او د لوړ کيفيت لوړې زده کړي وړاندی او د علميڅېړنو پر بنسټ د کره پوهنيزو اثارو د توليد زمينه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټوړو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتينو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هيواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتيني خدمت جوګه شي.

ژمن يو چې د هلمند ولايت، ګاونډيو ولايتونو او په ټول هيواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معياري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څېړونو زمينه برابره او ټولني او هيواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څېړنيزه مجله يوازي د **سائينسي علومو** په برخه کې علمي او څېړنيزي مقالي او ليکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هيله مند يو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زياتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څېړنيزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو وياړلی دين (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مينه والو ته په مينه سره بلنه ورکوو چي ددی علمي او څېړنيزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څېړنيزي ليکني، آندونه، وړانديزونه او رغنده نيوکي او مرستي د تل په شان راولوروی او د علم ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي ديني، او ملي برخي د اداينې وياړ راوبخښی.

موږ هوډ کړيدي او هيله مند يو چي انشآ الله د وخت په تيريدو سره به د خپل هيواد و بچيانو او ځوان نسل ته د تدريس ، ښه روزني او څېړنيز هاند لپاره اړيني او د پام وړاسانتياوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بيا د سهيل لويديځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هيوادوالو ته د يو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوريدلي اولس او ويجاړشوي هيواد اقتصادي، فرهنګي، سياسي او ټولنيزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهيوادونو په ليکه کي ودريږي.

## لړلیک

| د مقالې عنوان | د صفحې شمیره |
|---|---|
| **د کندهار په میرویس حوزوي روغتون کې د Sub Mucosal Resection واقعاتو څېړنه**<br>ډاکټر زلمی عالمي، ډاکټر ذبیح الله انوري ، ډاکټر سید بسم الله سجادي ------------------ | ۱ |
| **د کندهار په میرویس حوزوي روغتون کې په معدوي زخمونوکې**<br>**د هضمي جهاز د پورتنۍ برخې د وینه بهیدنې واقعاتو مطالعه** ----------------------------------------<br>ډاکټر نصرالله نصرت، ډاکټر ذبیح الله انوري، ډاکټر سید بسم الله سجادي | ۲ |
| **په نوزاد ولسوالۍ کې د انارو د تولید لګښت، ناخالصې ګټې،**<br>**خالصې ګټې او مارکیټینګ چینلونو اقتصادي تحلیل** ------------------------------------------------<br>پوهنیار زمریالی تڼی، پوهندوی ډاکټر علي احمد، حمید الله هدایت | ۳ |
| **د جوارو پر حاصل او د حاصل پر مرستندویه برخو باندې د پوټاشیم اغیزې**<br>پوهنمل محمدیار ملکزی، پوهنیار زمریالی تڼی ---------------------------------- | ۴ |
| **د ټولنې په سوله او ثبات کې د کرنې رول**<br>پوهنمل محمد یار ملکزی، پوهنیار زمریالی تڼی --------------------------------------------------------- | ۶ |
| **RAINFALL-RUNOFF MODELING OF ARGHANDAB RIVER BASIN IN AFGHANISTAN**<br>ABDUL WALI HEJRAN AND ESMATULLAH SANGIN --------------------------------------------------------- | ۷ |
| **د DYNAMIC ROUTING پروټوکول عملیاتو ته کتنه** ---------------------------------------------------------<br>محمد ادریس وزیری، خان محمد وفا، جماالدین جمال | ۸ |
| **د IP ADDRESS په اساس د سیستم د څارنې پلې کیدنه** ---------------------------------------------------<br>خان محمد وفا، جماالدین جمال، سید محمد عادل | ۹ |
| **د INTERNET PROTOCOL ADDRESS پیژندنه او د هغه پلې کیدنه** ----------------------------------<br>خان محمد وفا، جماالدین جمال،سید محمد عادل | ۱۰ |
| **پر کاروربار باندې د معلوماتي تیکنالوژۍ اغیزې** ----------------------------------<br>ارسلان وطندار ، پوهندوی دوکتور علی احمد، محیب الله امیني | ۱۱ |

# د ټولني په سوله او ثبات کې د کرني رول

پوهنمل محمد یار ملکزی[1*]، پوهنیار زمریالی ټنی[2]

[1]اګرانومي څانګه، کرهني پوهنځی، هلمند پوهنتون

[2]د نباتاتو اصلاح او تکثیر څانګه، نباتی علوم پوهنځی، انستو، کندهار

د مسؤل ایمیل ادرس: yarmalakzai805@gmail.com

## لنډیز

دا مقاله چي (د ټولني په سوله او ثبات کې د کرني رول) تر سرلیک لاندي د کتابتوني او انټرنیټي څیړني په بڼه ډیزاین سوې وه، د دې مقالې د موادو او معلوماتو په را غونډولو کې هڅه سوې ده چي د یادي موضوع په تړاو د نویو معتبرو کتابونو، علمي مقالو، معتبرو سایټونو او نورو معتبرو سرچینو څخه نوي او معتبر معلومات راټول او په دې مقاله کي ځای پرځای سوي دي. غذایي امنیت د یو پرمختللي ټولني او هیواد د یو سالم فکري، رواني او جسمي روغتیا او سلامتیا اصلي عنصر دی. په دې ټول پوهیږي چي د افرادو، ټولنو او هیوادونو نژدې ټولي شخړي او جګړې د ناسم او غیر متعادل (ناانډول ) اقتصادي وضیعت او حالت په اساس منځته راځي، د معلوماتو پر بنسټ د غذایي خوندیتوب څخه پرته په هیڅ هیواد کي هیڅ اقتصادي، ټکنالوژیکي او علمي پرمختګ ناشونی دی. د خوړو نه خوندیتوب په ټولنه، هیواد او حتی نړۍ کي د سیاسي بې ثباتۍ، ناامنۍ، ګډوډۍ، غلا، سرقت، فحشاء او فساد لامل کیږي. 21000 زره کاله پخوا د سبزیجاتو څخه د ګټي اخیستني په موخه د هغوی کرکیله د ګالیلیه سنمدر د اوسېدونکو په منځ کې رواج وه، د ډبري په لومړنۍ دوره کي (9500) مخزېرد کلنو کي د ځینو نباتاتو لکه غنم، اوربشي، نخود، دال، ترخه ماش او کتانو کښت په شام کي رواج درلود. د وحشي غلو دانو راټول سوي معلومات دا بیانوي چي غلې دانې لږ تر لږه 105,000 کاله وړاندي کر کېدلې. د خوړو او کرني سازمان اټکل کوي چي موږ د 828 میلیون وږو خلګو سره 2022 کال پیل کړ ، دا 828 میلیونه وګړي د نړۍ د لوږو خلګو تر ټولو لوی رقم نه دی بلکي د FAO د اټکل په بنسټ 2.3 ملیارده خلګ د لوږي د لږ خطر سره مخ دي ولي بیا هم ، د خوړو د نا خوندیتوب د خطر سره مخ دي. دا د نړۍ نږدې( % 29 ) سلنه نفوس جوړوي او همدارنګه د FAO د 2019 کال د اټکل له مخي په 2020 کي، په ټوله نړۍ کي 3.1 ملیارد خلګ نه دي توانېدلي چي صحي خواړه وخوري، چي دا د 2019 په پرتله 119 میلیونه ډیروالی ښیي. د جنسیت له مخي لوږه ترنارینه وو ډېر، ښځي یې ځپلي دي داسي چي په نړۍ کي له %31 څخه ډیري مېرمني له لوږي سره مخ دي په داسي حال کي چي د نارینوو یوازي % 27 سلنه د لوږي سره مخ دي. لوږه هم ماشومان په ځانګړې توګه سخت ځوروي. FAO اټکل کوي چې 45 میلیونه هغه ماشومان چي عمرونه یې د پنځو کلونو څخه کم دي د مرګ له خطر سره مخ دي. د لوږي له کبله د ماشومانو د مړیني او ضایع کېدو خطر تر 12 ځله ډیروي. د FAO دا اټکل له مخي 149 میلیونه ماشومان چي عمرونه یې د پنځو کلونو څخه کم دي د اړینو غذایي موادو او کافي خوړو د نشتوالي له امله د ټیټ قد درلودونکي دي. خو ملګري ملتونه وړاندوینه کوي چي که د طبیعی پېښو او د کرونا به څېر د دغسي اقتصادي زیانونو سره مخ نسو نو موږ به تر 2030 پوري د لوږي د له منځه وړلو په برخه کي خپل هدف ته خورا لږ پاته سول. او دا اټکل یې هم کړی دی چي لابه هم 670 میلیونه خلګ له لوږي سره مخ وي چي ددې جملې څخه به هر کال 9 میلیونه انسانان د لوږي له امله ومري.

**کلیدي کلمې**: کرنه، غذایي امنیت او غذایي ناامني

## سریزه

دا چي په نړی کي هيڅ داسي ژوندی موجود نسته چي د تنفس لپاره هوا، د خپل ژوند بقا، ودي او تکثر لپاره غذا او اوبو ته اړتيا ونه لري، خو انسانان سربېره پر دې د اوسېدولو لپاره مناسب،په زړه پوري، مُزَين او مجلل ځای، پوښاک، وسايل، پيسه او جايداد ته اړتيا لري خو ځيني کسان او کورنی او حتی هيوادونه د خپل ژوند لومړنی اړتياوي نه لري ولي په ټولنه او هيواد کي بيا داسي افراد سته چي په لويه پيمانه پيسه او جايدادونه لري، دغه نا انډولي په ټولنه کي نا امني زېږوي. او که د الله تعالی د حکم مطابق شتمن خلگ خپل د مالونو زکات و غريبو او مجبورو خلگوته ورکړي نو په ټولنه کي به غربت او مجبوريت ختم سي چي په دې سره به په ټولنه کي د غلا، سرقت، اختطاف، فساد او نورو ناامنيو او بدنيتو څخه خلاصه ټولنه ولرو. خو کله چي د الله تعالی د حکم مطابق عمل ونه سي په داسي حال کي د نړی اکثره هيوادونه غير مسلم خلگ دي چي دوي په دې باور نه لري چي بايد خپل د دنيا زکات غريبانو او مجبورو خلگو ته ورکړي او په پايله کي په ټولنه کي د غريبو خلگو گراف لوړيږي ، وروسته بيا همدغه مجبوره خلگ په غير قانوني او غير شرعي کارونو لاس پوري کوي او د ټولني امنيتي سکتور گواښي. او د بلی خوا څخه يوازي دا چي شتمن خلگ د غريبو خلگو سره مرسته نه کوي بلکي کله کله بيا دوی پخپله د حرص په دام کي راگير سي چي کاش ما تر دې ډېر څه درلودلای او څه وخت چي دا غوښتني د قانوني لارو څخه پوره نه کړای سي نو هڅه کوي چي د غير قانوني لارو څخه خپل غوښتني پوره کړي، د حرص دا مفکوره کله ناکله د افرادو د کچي څخه د هيوادونو کچو ته سرايت کوي، په پايله کي شخړه رامنځ ته کيري او په نتيجه کي د هيوادونو په کچه شخړي، ناامنی، بې وزلی او غربت رامنځ ته کيږي ، د غربت په وجه په ټولنه، هيواد او نړی کي په پراخه کچه د جگړې او بې ثباتی لمن ارتيريږي ، د بې ثباتي د مخنيوي لپاره بيا په زرگونه پوليس په دندو گمارل کيږي او د هغوی لپاره ډېري زياتي پيسې پر تجهيزاتو لگيږي.

## د کرني تاريخچه

دا څرگنده چي د بشريت د پلار حضرت آدم (ع) څخه مخکي هم د ځمکي پر مخ نباتاتو شتون درلودلی دی څکه چي الله پاک پر فرشتو باندي د حضرت آدم ع د فوقيت او برتريت دليل د ځينو نباتاتو د نومونو اخيستل ياد کړي دي (دعوتيار-غفارزی) ته د خوړو وړ واښو د کوچنی کچي کښت يا کروندي لومړني شواهد د 21,000 مخزيږدو کلونو په شاوخواه کي د اوهالو خلکو سره د گيليله سمندر(Sea of Galilee) په څنډو کي واقع دي ليدل سوي د(Ainit, 2015). د 9500 مخزيږدو کلنو څخه بيا د ډېرى تر دوري(8000-100000 ق م) پوري اته بنستيز نباتات لکه شنه غنم (Emmer Wheat)، تور غنم (Einkorn Wheat)، وربشي (Hulled Barley)، نخود (Peas)، عدس (Lentils )، ترخه ماش (Bitter Vetch )، کتان(Flax) په (Eastern Mediterranean) کي کرل کېده (Melinda, (2011). په دې وخت کي کرنه په خپلواکه توگه د نړی په بېلابيلو برخو کي پيل سوه او مختلف الډوله نباتات پکښي شامل سول. د پخواني او نوي نړی لږ تر لږه يوولس جلا جلا سيمي د لومړنی کرني اصلي مرکزونه وه. د وحشي غلو دانو په اړوند راټول سوي معلومات بيانوي د غلو دانو ځيني ډولونه لږ تر لږه 105,000 کاله وړاندي کر کېدل (The Free Encyclopedia,2022 ). په هر صورت، د نباتاتو کورني کول ډېر وروسته پيل سوي دي. وريجي په چين کي په 6200 مخزيږدو کلونو کي اهالي سوي دي او په کرل سوي بڼه د 5700 مخزيږدو کلونو په شاوخوا کي تر ټولو د مخه د لومړني کرنيز نبات په حيث پېژندل سوي دي، وروسته ماش، سويابين او لوبيا اهالي او وپېژندل سول (Kris, 2019). مخزيږد شاوخوا 11,000 کاله د مخه په بين النهرين کي اهالي سوي دي، وروسته پسه اهالي سوی دی. شاوخواه په 8500 مخزيږدو کلونو په بهير کي په اوسني ترکيه او هند کي د غرونو څخه وحشي څاروي اهالي سوي دي. جوار د 3000 مخزيږدو کلنو کي د افريقا په سهيلي سيمه کي اهالي سوي دي، په داسي حال کي چي اوښان ناوخته هالي (کورني سوي دي) يعني شايد د BC 3000 شاوخوا هالي سوي وي. د کرني پرمختگ شاوخوا 12000 کاله وړاندي د انسانانو د ژوند بڼه بدله کړه(National Geographic Society, 2022) . تر دې وړاندي دوی د کوچياني ژوند او حيواناتو د ښکار له لاري گزران کاوه او د هغه څخه وروسته دايمي استوگني او کرني ته مخه کړه. د کرني تمرين شاوخوا 12000 کاله وړاندي يې ريښه نيولې وه ( National Geographic Society,2022). په ټولنه او د خلگو د ژوند په طريقه کي داسي بدلون رامنځته کړه چي پراختيا يې "د نوي ډېري انقلاب"په نوم ياديږي. د ښکار د دوديز ژوند طرزالعمل چي انسانانو د خپل تکامل راهيسي تعقيب کړی وو، د دايمي استوگني او د ډاډ وړ خوراکي توکو په گټه پرېښودل سوی وه. د کرني څخه بهر ښارونه او تمدنونه وده وکړه. او د اړتيا د پوره کولو لپاره د نباتاتو او حيواناتو په کرلو لاس پوري کړ. د نړی نفوس 10,000 کاله د مخه د پنځه ميليونه په شاوخوا کي وه چي نن سبا د اته مليارده څخه ډېر سوی دی. هيڅ يو عامل يا د فکتورونو داسي ترکيب شتون نه درلود چي د نړی په بېلابيلو برخو کي خلگ و کرني ته اړ کړي. په نږدې ختيځ کي،

د نړۍ په بېلابېلو برخو کي د اقليمي بدلونونو په لړ کي يخبندان داسي موسمي شرايط رامنځته کړل چي و کلني نباتاتو ته لکه وحشي غلجات او حبوباتو ته د يخ په وړاندي د مقاومت په اساس ترجيح ورکړل سوه. په بل ځای کي، لکه په ختيځه آسيا کي، د طبيعي خوړو پر سرچينو باندي د فشار زياتوالی ممکن خلګ دې ته اړ کړي وي چي کورنۍ حل لاري وموسي. خو چي په هر دليل وي کرنه د عصري عصر تخمونه لاسته راوړل او وي کړل (صادق، 2023).

د غنمو، وربشو او نخودو په شمول د نباتاتو وحشي نسلونه په نژدې ختيځه سيمه کي موندل کيږي. په سوريه کي تر 9000 کاله وړاندي حبوبات کرل کېدل، په داسي حال کي چي انځر تر هغه مخکي هم کرل کېدل. د اردن (جردن) په دره کښي کشف شوي بې تخمه مېوې دا ښيي چي، د انځر وني شاوخوا 11,300 کاله د مخه کرل سوي وي. که څه هم د نباتاتو د وحشي ډولونو د حاصلاتو را ټولول په تدريجي ډول تر سره کېدل، خو د قبيلوي يا کوچياني ژوند څخه د دايمي استوګني د ژوندانه طرزالعمل ته بدلون د ډبري د لومړنيو دورو د کليو د راځرګندېدو له امله په نښه سوي وه چي کورونه يې د غلو د پروسس (د غلو دانو د اوړه کولو) لپاره په ډبرو ( د اوړه کولو په وسايلو) سمبال وه. د وريجو او اړدنو د کرلو اصلي منشاء په چين کي د نوي ډبري په دورې پوري اړه پيداکوي. په نړۍ کي د وريجو تر ټولو پخوانۍ پېژندل سوی بوټی په 2007 کي په ختيځ چين کي کشف سوی دی، دا د کرني د پخوانيو تخنيکونو شواهد وړاندي کوي. په مکسيکو کي د ژړو کدوانو کښت شاوخوا 10,000 کاله د مخه پيل سوی وو، د جوارو لومړنۍ کرنيزه نوعه نژدې 5,500 کاله مخينه لري. غواګانې، وزې، پسونه او خنزير ټول د ګټي اخيستني له اړخه لومړني هالي سوي حيوانات بلل سوي دي، د ترکيې ختيځي سيمي، عراق او د ايران سهيل لوېديځي سيمي د د ډبري د نوي دورې پر بنسټ د حيواناتو د اهالي کولو له اړخه د انقلاب د پيل سيمي بلل سوي دي، او د نومړو حيواناتو د اهالي کولو نېټه له 13000 څخه تر 10000 کلونو وړاندي ګڼل سوې ده ( The Development of Agriculture, 2023).

جنيتيکي څېړنو ښودلې ده چي وزې او نور څاروي په اروپا کي د لويديځ په لور د کرني له پراختيا سره يو ځای خپاره سوي دي، او د ډبري د دورې د انقلاب سره يې مرسته کړې ده (The Development of Agriculture,2005).

جوار وروسته شمالي امريکا ته ورسېدل، په داسي حال کي چي د لمر پرست ګلانو روزنه شاوخوا 5000 کاله وړاندي په ياده سيمه کي پيل سوي وه . دا هغه وخت دی چي د سويلي امريکا په انډيز (آند) سيمه کي د کچالو کښت پيل سو. په جنوبي امريکا کي، کرنه شاوخوا BC 9,000 د مختلف الډوله نباتاتو په کرلو سره پيل سوه چي وروسته په کوچنيو فصلونو بدل سوه. د سويلي امريکا د انډيز (آند) په غرونو کي، کچالو د 8000 او 5000 مخزېږدو کلنو تر منځ د لوبيا، ژړ کدوانو، روميانو، ماش (مې)، کچالو، لاما، الپاکا او ګيني او همدارنګه هندي خنزير سره يوځای روزل کېدل. جوارو ( Zea mays) له Mesoamerica څخه سويلي امريکا ته لاره پيدا کړه، چيري چي د هغه وحشي ډول شاوخوا 7000 مخزېږدو کلنو کي کورنۍ سوی وو ، په وروسته کي د جنيټيک انجنيرۍ له لاري د هغه په جينوم کي ايډيټ وسو او د هغه څخه کورني جوار يې لاسته راوړل. پنبه په پيرو کي د 4200 مخزېږدو کلنو په شاوخواه کي اهالي او اصلاح سوې ده. د پنبې بله نوعه په منځنۍ امريکا کي پېژندل سوې او اصلاح سوې ، او په اوسنيو وختونو کي د ټوکر په صنعت کي پنبه د نورو فايبري نباتاتو په منځ کي تر ټولو مهم مقام لري. د متحده ايالاتو په ختيځ کي د کرني او کرنيزو فعاليتونو شواهد شاوخوا د 3000 BC څخه وړاندي ځي. چي وروسته د درې ډوله کرنيزو نباتاتو لکه جوارو، ژړ کدوانو او لوبيا په کرلو سره تعويض سوه. ګنی او ځيني ريښه يي سبزيجات په 7000 BC شاوخوا کي په نيو ګينا (نوي ګينه= د استراليا شمالي برخه) کي روزل سوي دي. کيلې هم په همدې دوره کي په پاپوا نيو ګينا کي کرل سوي، او هايبرډايز (دوه رګه) سوي دي. په آسترالیا کي، کرنه په نامعلوم وخت کي اختراع سوې وه، د مارماهي دامونه تر ټولو لومړني جالونه چي د 6600 قبل الميلاده پوري تاريخ لري او د يام=يَم=Yam څخه تر کيلې پوري ډيری مختلف فصلونه کرل کېدل (صادق، 2023).

د برونز په دوره کي (په BC3300 ) مخزېږدو کلنو په شاوخوا کي په مختلفو تمدنونو کي لکه د بين النهرين، لرغوني مصر، د هند په نيمه وچه کي د سيند په دره کي، لرغونی چين او لرغونی يونان کي د کرني شدت وليدل سو. د اوسپني دورې او لرغوني دورې په جريان کي، د لرغوني روم، جمهوريت او بيا د امپراتورۍ پراختيا، د لرغوني مديترانيې او لويديځي اروپا په اوږدو کي د موجوده زراعتي سيستمونو پر بنسټ جوړ شو چي کرني ډېره وده وکړه ، حتی تر دې چي د ملکۍ او اربابي دوره او سيستم رامنځته سو ، دا چاره په منځنيو پېړيو د کرني بنسټ جوړه سوه. په منځنيو پېړيو کي، په اروپا او اسلامي نړۍ کي، کرهڼه په ښه تخنيکونو سره او د نباتاتو خپرېدل، لکه د ګني، وريجي، پنبه او د ميوو ونو لکه نارنج دآل او انډلس له لاري اروپا ته معرفي سول. اندلس په 1492 کي د کريستف کلمب د سفرونو وروسته، د کولمبيا تجارت د نړۍ نوي فصلونه لکه جوار،

کچالو، رومیان او خواږه کچالو  اروپا ته یوړل سوه، او د پخواني نړۍ نباتات لکه غنم، وربشي، وریجي، شلغم، او ځیني څاروي لکه اسونه، غواګاني، پسونه او وزې امریکا ته یوړل سوه. دا چي ددې مقالي موخه د «ټولني په سوله او ثبات کي د کرني رول» دی نو اصلي موضوع ته ولاړ سو او په دې لړ کي لومړی پر غذایي امنیت باندي بحث وکړو، چي غذایي امنیت څه ته وایي، څومره مهم دی او د ټولني په سوله او ثبات کي څومره رول لري او داسي نور (صادق،2023).

**غذایي امنیت (Food Security)**

غذایي امنیت د یوه ټولني او هیواد د یوې سالمي فکري، رواني او جسمي روغتیا او سلامتیا اصلي عنصر دی. په دې ټول پوهیږي چي د افرادو، ټولنو او هیوادونو نړدې ټولي شخړي او جګړې د ناسم او نااندول غذایي او اقتصادي وضعیت او حالت په اساس منځ ته راځي .اوسني اقتصاد پوهان او د جنګي تکتیکونو پوهان ټوله پر دې باندي متفق دي چي د سولي د راوستو لپاره باید عادلانه او منصفانه غذایي رژیم او وېش صورت ونیسي او دا هغه وخت شونی دی چي کرنه پرمختګ وکړي او په عصري ټیکنالوژۍ سمبال سي، همدارنګه د دې لپاره چي غذایي امنیت تامین سي او د نړۍ ټولو خلګو ته په مساوي وخت مساوي غذا ورسیږي، نو یواځنۍ لاره د کرني پرمختګ دی لکه څنګه چي مخکي وویل سول پرمختللي ماشینرۍ او  د ناروغیو او ناسمو اقلیمي شرایطو په وړاندي غښتلي او مقاومه ورایټي وکرل سي نو د دې لپاره غذا پوهان او کرنپوهانو تلاش کړی دی چي دغه جدي خطر له منځه یوسي، او د دې لپاره چي یاده ستونزه حل سي په 1994کال کي د غذایي امنیت د تامین لپاره د (World Food Conference) تر عنوان لاندي نړیوال کنفرانس جوړ سو، د دې کنفرانس په پای کي دوی د Food Security اصطلاح رامنځ ته کړه. د Food Security اصطلاح د غذایي تامین او غذا رسوني هغه حالت ته ویل کیږي چي د نړۍ هر وګړی د نړۍ په هر ګوټ ،هرځای  او هر وخت کي د خپل اړتیا وړ غذایي موادو ته لاس رسي ولري .داسي شواهد وجود لري چي 10000 کاله وړاندي په پخواني چین او مصر کي مرکزي مقامات د لوږي او قحطي په وخت کي غذایي توکي ذخیره کوله، لکه څنګه چي مخکي وویل سول په 1994کال کي د خوړو او غذا په نړیوال کنفرانس کي د غذایي امنیت اصطلاح پر عرضې باندي د ټینګار پر بنسټ تعریف سوې وه. دوی وویل چي  Food Security هغه حالت ته ویل کیږي کوم چي د نړۍ ټول وګړي د خپل صحت د تامین او سالمي ودې لپاره باید په هر وخت او زمان کي مناسبي غذا ته په مناسبه بیه لاسرسی ولري. وروستی تعریف کوم چي په 1996کال کي د غذایي امنیت د تامین د کنفرانس له خوا د ناستي څخه وروسته د تقاضا او غذایي موادو ته د لاسرسي مسائلو پر بنسټ وضع سو، په دې ډول دی :غذایي امنیت او غذایي تامین هغه وخت وجود درلودلای سي  چي کله  د نړۍ ټول وګړي په هر وخت او زمان کي په فزیکي او اقتصادي ډول و کافي ،بې خطره او مغزي غذا او غذایي موادو ته لاسرسی ولري، تر څو خپل غذایي اړتیاوي اوغذایي ترجیحات د یوښه ،فعاله اوسالم ژوند لپاره برابر او تامین کړی سي. کورني غذایي امنیت هغه وخت وجود درلودلی سی چي د کور ټول غړي په هر زمان کي د خپل فعاله، سالم ژوند او ودي لپاره کافي غذا ته لاسرسی ولري .د امریکا متحده ایالاتو د کرهڼي د وزارت  په وینا هغه کسان چي په غذایي امن کي ژوند لري هغه په لوږه او یا د لوږي څخه په بېره کي ژوند نه کوي ،او له بله پلوه نا امنه غذایي حالت هغه حالت ته ویل کیږي چي خلګ  د قبول وړ کافي او مناسبي غذا ته په قابل قبولو لارو او طریقو باندي محدوده لاسرسی ولري،اویا هیڅ لاسرسی ونه لري .غذایي امنیت د راتلونکو اختلالاتو او یا مهمو غذایي موادو ته د نه لاسرسي په وړاندي د مقاومت اندازې ته شامليږي کوم چي د مختلفو عواملو پر بنسټ لکه وچکالي،ترانسپورټي اختلالات او ګډوډي ،د سونګ د موادو کمښت ،اقتصادي بې ثباتي چي د جګړې له کبله منځ ته راځي .په 2013-2011 کلونو کي 842 میلیونه خلګ د ژوري لوږي سره لاس او ګرېوان وه ،د کرني او غذا د نړیوال سازمان د راپور پر بنسټ د نړیوال غذایي امنیت لپاره څلور بنسټه د غذایي تامین لپاره ګټي اخیستني ته چمتو او مشخص کړه ( پور، 1399).

د کرني پراختیا کولی سي چي د عایداتو او کارموندني په لوړولو سره په سوله کي د پام وړ مرسته وکړي، په دې توګه هغه ټولنیزي مایوسۍ کموي کوم چي تاوتریخوالي ته وده ورکوي. د کرني وده هم د دولتونو لپاره عایدات تولیدوي، دوی ته اجازه ورکوي چي د بې وزلو خلګو شکایتونه حل کړي کوم چي د بې روزګارۍ، لوږي او ناسمي تغذیې څخه سرچینه اخلي.  د خوړو خوندیتوب په یوه ناکراره نړۍ کي د ملي امنیت بنسټ دی،( Riely *et al.*, 1999). حکومت باید د خپلو خلګو لپاره د خوراکي توکو د برابرولو او امنیت په ښه کولو فکر وکړي او له دې اړخه ډاډ ترلاسه کړي. د خوړو خوندیتوب او خواړه د ټولني د امنیت بنسټ او د فکري، رواني او روغتیایي مسائلو اصلي عنصر دی. کورنیو سرچینو څخه د خوړو مصؤنیت برابرول د هیواد د سیاسي نظام د نړیوال انځور په لوړولو او د واک د پراخولو په برخه کي د هغه پر مشروعیت باندي خورا اغېزمن رول لري. هیڅ هیواد به د منلو وړ غذایي امنیت د چمتو کولو پرته قوي او خوندي نسي. نن ورځ، د امنیت مختلفي ساحې یو بل سره تړلي

دي او د رګونو په څیر تراو لري. د خوړو خوندیتوب د ملي امنیت بنسټ او د نظامي او اقتصادي طاقت اساس جوړوي. غذایي امنیت د پرمختګ بنسټ دی، نو د پرمختګ او پرمختللي هیواد د درلودلو لپاره د کافي خوراکي توکو درلودل لومړنی شرط دی. د هیواد اقتصادي خپلواکي د خوراکي توکو په ځانګړې توګه د ستراتیژیکو محصولاتو د په ځان بسایني پوري تړلې ده. په ټولنه کې د خلګو فزیکي او د ماغي روغتیا لپاره اوبو او صحي خوړو ته لاسرسی، او د تغذیې د اصولو سره مطابق باید یادو اړتیاوو ته لاسرسی ولري. د کرنې پرمختګ په ټولنه کې د محرومیت او بې وزلۍ په له منځه وړلو، د کلیوالي اقتصاد په پیاوړتیا، د سوداګرۍ په پراختیا، د کارموندنې او هوساینې په برخو کې او همدارنګه د یوې ټولنې د مطلوبو اهدافو په لاسته راوړلو، د پخوانیو صنعتونو په اپډیټ کولو، د ټولنې په سوکالۍ، ملي اقتصاد، ټولنیزو مسائلو، د سیاسي او امنیتي برخو په تامین، او په ټوله کې په ملي پرمختګ کې مهم او اغیزمن رول لري (**شیرسوار**، 1396)

د خوړو خوندیتوب د طبیعي، سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري تغیراتو د فعالیتونو اساس دی. له همدې امله، د یادو فکتورونو د ترکیب په شمول د پرمختللي کرنیزو پالیسیو، د خوراکي توکو د وېش سیستم، د هیواد طبیعي زیرمې، د مصرف او تغذیې بڼه، د خوړو د ضایعاتو د کمولو سیستم، د لومړنیو توکو سبسایډي چې د خوړو تشې پورې اړه لري، د کارموندنې وضعیت او د عایداتو وېش، بهرنۍ سوداګرۍ او په پای کې د تغذیې کلتور ټوله د غذایي امنیت سره تړلې دي. د خوړو د خوندیتوب تر ټولو مهم ټاکونکی د کورنیو وړتیا ده چې لومړني توکي او خدمات وړاندې کوي. د ملګرو ملتونو له نظره غذایي مصؤنیت د نړۍ په هر ګوټ او هر وخت کې د لومړنیو خوراکي توکو عرضه ده. کوم چې مصرف زیاتوي یا ثبات پیدا کوي، او د تولید او نرخونو د بدلون لپاره تاوان ورکوي، (FAO,2023) د هند د اقتصاد پوه امرتیاسین په حواله لیکلي دي چې د خوړو عادلانه وېش او د شرایطو برابرولو ته په پام سره چې وه غذا ته د لاسرسي لامل کیږي، د نړۍ ټول خلګ خوراکي توکو ته اړتیا لري. د نړیوال بانک د تعریف له نظره د خوړو خوندیتوب و خوړو ته د ټولو خلګو لاس رسي ته ویل کیږي، داسې چې د ټولنې هر وګړی په هر وخت او هرځای کې کافي خواړو ته د سالم او فعاله ژوند په موخه لاسرسی ولري (FAO,2023). د مکس ویل نومي عالم په باور یوه ټولنه ، هیواد او یا ملت هغه مهال د خوړو خوندیتوب لرلی سي، چې د دوی د خوړو سیستم په داسې ډول وي چې په دا وېره پکښې نه وي چې کافي خواړه له لاسه ورکوي، یا دا چې و کافي خوړو ته د دوی لاسرسی محدودیږي. د خوړو خوندیتوب هغه وخت ترلاسه کیږي کله چې بې وزله او زیان منونکي خلګ، په ځانګړې توګه ښځې او ماشومان، او هغه کسان چې د پولې په شرایطو کې وي د خوارځواکۍ څخه ژغورل سوی وي. که څه هم د خوړو د خوندیتوب اصلي تعریف کې د خوراکي توکو عرضه (ملي تولید یا واردات) په کې شامل نه دي، مګر د خوراکي توکو په وارداتو باندې د خوړو خوندیتوب ډېره تکیه لري، بلکې دا یو ګواښ ګڼل کیږي. او په پای کې د خوړو خوندیتوب تعریف په ټوله کې و کافي غذایي موادو ته د ټولو خلګو فزیکي، ټولنیز او اقتصادي لاسرسي ته ویل کیږي ، داسې چې د سالم او فعاله ژوند لپاره د اړتیا په وخت کې په هر ځای او زمان کې و کافي او صحي خوړو ته لاسرسی ولري، همدارنګه د ځان بسایني د تعریف پر بنسټ، غذایي امنیت د سیاسي سیستم هغه وړتیا ته ویل کیږي چې په خپله خاوره کې د ملي ظرفیتونو څخه کار واخلي او په پایله کې د کافي خوړو د رسولو لپاره د محصولاتو مناسبه اندازه تولید کړای سي (شیر سوار، 1399). بهمن خسروي پور، د ادوارد او د هغه د ملګرو په حواله لیکلي دي چې غذایي امنیت د نړیوال بانک د تعریف پر بنسټ د یو ښه او سالم ژوند لپاره و کافي غذا ته په هروخت او هر ځای کې د بشر لاسرسي ته ویل کیږي، د نوموړې په باور غذایي امنیت درې عمده برخې لري چې عبارت دي د غذا د شتون، غذا ته لاسرسی او د دوامداري غذا پیدا کول (پور، 1399).

د خوړو خوندیتوب یو شمېر نوري مهمي ستراتیژۍ سته چې د خوړو د خوندیتوب لپاره باید په پام کې ونیول سي، دغه ستراتیژۍ عبارت دی له: د خوړو خوندیتوب، روغتیا او د کرنیزو محصولاتو بډایه کولو د سلسلې پراختیا، د خوراکي توکو د خوندیتوب له اړخه ډاډمن اوسېدل او په اساسي محصولاتو کې د 95% ځان بسایني ترلاسه کول، د ستراتیژیکو محصولاتو د تولید زیاتوالی، د صحي او عضوي محصولاتو پراختیا، د خوړو خوندیتوب او روغتیا او په بازار کې د بنسټیزو توکو د انفلاسیون کمول، د ستراتیژیکو محصولاتو زیرمې چمتو کول، د ملاتړ وسیلو تنوع، د سرچینو چمتو کول او تجهیز کول، د پانګوني پراختیا او امنیت او په کرنیزو تولیداتو کې د اغېزمنو او ارزښتمنو کړیو بشپړول، بدلون، تکمیلي صنعتونه او د تولید په قطبونو کې د بنسټیزو کرنیزو محصولاتو ذخیره کول، ساړه زېرمتونونه او څو هدفي تخنیکي ګودامونه، د کرنې لپاره د ملاتړ عمومي

کچې ته وده ورکولی سي چې په نتيجه کې په يوه ټولنه د ځان بسايني او خوړو د خونديتوب موخه تر لاسه کيږي (**شيرسوار، 1400**)

**غذايي نا امني او د هغه اغيزې پر ملي امنيت باندې:**

د نړۍ د معاصر سياسي تاريخ له مطالعې او د نړۍ د اقتصادي فرصتونو د سپړنې څخه داسې انګېرل کيږي، هغه خطرونه چې د بشري ټولنو راتلونکې امنيت او هوساينې ته ګواښ پېښوي، لکه پر کوم هېواد باندې د بهرني ځواک تېری او يا نړيوالې جګړې دومره خطرناکه خطرونه نه بلل کيږي، لکه اقتصادي، ايکولوژيکي او ټولنيزي بې ثباتي، په ځانګړې توګه د خوړو د خونديتوب او نه خونديتوب پديده، چې د کرنې د وروسته پاته والي له کبله و غذا ته يو هېواد اړمن ساتي. د خوړو نه خونديتوب يو له هغو عواملو څخه دی چې کولی سي حياتي ارزښتونه او په دې توګه د يو هېواد ملي امنيت له خطر سره مخامخ کړي. که يو هېواد هرڅومره هم په امنيتي، استخباراتي، فوځي او ټکنالوژيکي لحاظ پرمختللی وي خو د هېواد په دننه کې د غذايي توکو د کمښت سره مخ وي نسي کولای چې د بهرني ځواک په وړاندې ودريږي، او يا هم خپل داخلي بې ثباتي کنترول او مهار کړي، همدارنګه دا ټولو ته جوته ده چې د کرنې او کرنيزو توليداتو څخه پرته ژوند ناممکن دی (مقصود، 1378). د خوړو خونديتوب، په اوس او راتلونکې کې و کافي خوراکي توکو ته د بشر د لاسرسي مفهوم وړاندې کوي، په نړۍ کې د نفوسو چټکه وده چې د خوړو خونديتوب يې اغيزمن کړی او د نړۍ په ځينو برخو کې يو ځانګړی سياسي، اقتصادي او ټولنيز وضعيت رامنځته سوی دی. د افغانستان په شمول په منځني ختيځ او شمالي افريقا کې د 60 اړمنو هېوادونو سياسي برخليک د صنعتي هېوادونو لخوا ټاکل کيږي، نه يوازې دا چې سياسي برخليک بلکې د دوی ورځنی ژوند هم د واکمنو او شتمنو هېوادونو په پريکړو پوري تړلی دی، او له دغه انحصار څخه د خلاصون، ملي خپلواکۍ او ټولنيز پرمختګ يوازنۍ لاره د کرنې پراختيا ده. د غذايي امنيت د پوهانو په باور که يو کس 24 ساعته ډوډۍ و نه خوري نو غلا کوي، که 48 ساعته ډوډۍ ونه خوري نو جګړه کوي، او که 72 ساعته ډوډۍ و نه خوري قتل کوي چې په پايله کې په ټولنه کې نا امني، غلا او جګړې زياتيږي، او د همدغه څخه د کرنې ارزښت فهمولای سو. د کرنې پرمختګ د ساينسي ميتودونو او تخنيکي لاسته راوړنو پرته امکان نلري. د دې مسئلې په پام کې نيولو سره، د ستراتيژيکو توليداتو په برخه کې د ځان بسيا کولو په تړاو د "خوړو خونديتوب" او "د خلکو روغتيا" دوې ملي حساسې مسئلې دي، چې د خوړو د خونديتوب څخه پرته ناشونی کار دی، دولت ته په کار ده چې د هېواد د داخلي ثبات د تامين، علمي پرمختګ، امنيت، سوکاله ژوند او د پر ځان بسايني لپاره دې کرنيز سکټور ته ډېره پاملرنه وکړي (ادوارد و اين مون، 1379).

لوږه يو ساده مفهوم دی. مګر دا خورا يو په زړه پوري او پېچلی مفهوم وړاندې کوي، د بېلګې په توګه، له هرو نهو کسانو څخه يو يې د خوړو د نه خونديتوب په کچه کې ژوند کوي. مګر د خوړو نه خونديتوب څه شي دی؟ آيا دا د خوارځواکۍ په څېر دی؟ قحطۍ ته کله قحطي ويل کيږي؟ او څومره خلګ له دې ستونزې سره مخ دي؟ دلته، موږ دواړو پوښتنو ته د دوی تر شاه چې کوم مفهوم پروت دی روښانه کوو. د 2022 کال په بهير کې د نړۍ د لوږې سره د لاس او ګريوان خلګو شمېر شاوخواه 193 ميليونه ښودل سوی دی، چې دا به نور هم خراب سي، د خوراکي توکو په لګښتونو او موجوديت باندې د اوکراين د جګړې اغيزې او د افريقا په برخه کې په 40 کلونو کې تر ټولو بده وچکالي د خوړو نا خونديتوب ته لا نوره هم وده ورکړه (World Hunger Facts, 2022) د خوړو او کرنې سازمان اټکل کوي چې موږ د 828 ميليون وږو خلګو سره 2022 کال پيل کړ، چې دا شمېره د COVID-19 وبا له پيل راهيسې د نږدې 150 مليون وږو خلګو زياتوالی څرګندوي. د 2022 کال په جولای کې، د خوړو نړيوال پروګرام خبرداری ورکړ چې نږدې 828 ميليونه خلګ له لوږې سره مخ دي، او په دې کې 345 ميليونه د شديدې لوږې سره مخ دي. په نړۍ کې د سختې لوږې سره لاس او ګرېوان شميرې ښيي چې په دريو مياشتو کې د 25% سلنې په شاوخواه کې د لوږو خلګو شمېر ډېر سوی. د نړۍ د لوږې دغه زياتوالی په اوکراين کې د جګړې له امله بلل سوی دی. د 2021 په پای کې، نږدې 193 ميليونه خلګ شديده لوږه تجربه کوله (World Hunger Facts, 2022) او همدارنګه د يو بل راپور پر بنسټ چې د 2011-2013 کلونو په درشل کې خپور سوی دی، بيانوي چې په ټوليزه ډول 842 ميليونه خلګ او يا په هرو اتو کسانو کې شاوخوا يو کس د اوږدې مودې لوږې سره مخ دی، په دې معنی چې دوی نه دي توانيدلي چې د فعاله ژوند د ترسره کولو لپاره کافي خواړه ترلاسه کړي. د 2007-8 کلنو د خوړو بحران، ورپسې د 2009 او مالي او اقتصادي بحران چې تر 2012 کاله پوري دوام وکړ، د نړۍ د غذا پوهانو پاملرنه يې راجلب کړه. هغه ننګوني چې په ټوله نړۍ کې په ميليونونو کورنۍ د عادلانه، باعزته او باثباته ژوند د ملاتړ په موخه د لوږې او فقر د له منځه وړلو له لارې يې په لټه کې دي او د نړيوالې ټولنې هغه ژمنې ته هيله من دي چې اراده لري تر 2015 پوري د لوږې سره د لاس او ګرېوانو خلګو شمېر نيمايي ته راکم کړي، په داسې حال کې چې تر اوسه (2023) پوري نړيواله ټولنه نه ده بريالۍ سوې چې لوږه او خوارځواکي راکمه کړي، بلکې تر اوسه پوري په ميليونونه انسانان په عادي ډول د لوږې او خوارځواکۍ حالت تجربه کوي (CFS, 2014).

د مخکني راپور پر بنسټ اوس مهال په نړۍ کې 828 ميليونه وګړي په لوږه کې ژوند تيروي خو دا 828 ميليونه خلګ د لوږو خلګو تر ټولو لوی رقم

نه دی. د FAO د اټکل پر بنسټ 2.3 ملیارده خلګ د لوږې د لړ خطر سره مخ دي ولې بیا هم ، د خوړو د نا خوندیتوب د خطر سره مخ دي. دا د نړۍ نژدې 29% نفوس جوړوي، او همدارنګه د FAO د 2019 کال د اټکل له مخې په 2020 کې، په ټوله نړۍ کې 3.1 ملیارد خلګ نشي کولای صحي خواړه وخوري، چې دا د 2019 په پرتله 119 میلیونه ډېروالی ښیي. لوږه د جنسیت له مخې تر ټولو ډېر، ښځې یې ځپلې دي داسې چې په نړۍ کې له 31% څخه ډېرې مېرمنې له لوږې سره مخ دي په داسې حال کې چې نارینه یوازې 27% د لوږې سره مخ دي. لوږه هم ماشومان په ځانګړې توګه سخت ځوروي. د FAO د یو بل راپور له مخې 45 میلیونه هغه ماشومان چې عمرونه یې د پنځو کلونو څخه کم دي د لوږې د شدت له کبله د مرګ له خطر سره مخ دي. په انسانانو کې د لوږې له امله په ماشومانو کې د مړینې او ضایع کېدو خطر تر 12 ځله ډېروي ( World Hunger Facts, 2022.

FAO د اټکل له مخې 149 میلیونه ماشومان چې عمرونه یې د پنځو کلونو څخه کم دي، د اړینو غذایي موادو او کافي خوړو د نشتوالي له امله د ټیټ قد درلودونکي دي. خو ملګري ملتونه وړاندوینه کوي چې که د طبیعي پیښو او د کرونا به څېر د دغسې اقتصادي زیانونو سره مخ نسو نو مونږ به تر 2030 پورې د لوږې د له منځه تګ په برخه کې خپل هدف ته خورا لږ لیرې پاته سو. د دې لسیزې په پای کې، دا اټکل کوي چې لا به هم 670 میلیونه خلګ له لوږې سره مخ وي، او لیکلې یې دي چې هر کال به 9 میلیونه انسانان د لوږې له امله و مري (World Hunger Facts, 2022).

د غذا د نړیوال پروګرام د راپور پر بنسټ په نړۍ کې لوږه د بېلابېلو فکتورونو تر څنګ د یو شمېر څرګندو لاملونو لکه د غذایي موادو لوړه بیه، طبیعي پیښو، نړیوال اقلیمي بدلونونه، بشري مرستو ته نه لاسرسی او جګړې هغه څه دي چې په نړۍ کې د لوږې کچه یې زیاته کړې ده ( The World Food Programme, 2022). د خوړو نه خوندیتوب د ټولنیز- سیاسي سیسټم حیاتي ارزښتونه او ملي امنیت له خطر سره مخامخ کوي. د خوړو د نه خوندیتوب په رامنځ ته کولو سره سیاسي بې ثباتي او ټولنیزه نابرابري د نظام بنسټونه له منځه وړي. د خوراکي توکو نا امني، د یوه هیواد نړیوال اعتبار له منځه وړي او سیاسي سیسټم ویجاړوي چې په پایله کې کوم هیوادونه چې په کافي اندازه غذا لري کولی سي اړمن هیوادونه د خپلو ګټو د خوندي ساتلو په موخه انحصار او استعمال کړي (شېرسوار، 1399). د 189 غړو هیوادونو سره، د 170 څخه زیاتو هیوادونو کارکونکي، او په 130 ځایونو کې دفترونه لري. د نړیوال بانک ګروپ یو ځانګړی نړیوال شرکت دی چې د نړیوال بانک په چوکاټ کې پنځه بنسټونه (مؤسسې) د غذایي امنیت د تامین لپاره د دوامداره او پایدارو حل لارو لپاره کار کوي، ترڅو بې وزلې کمه کړي او د وروسته پاته او پرمختللو هیوادونو ترمنځ ګډه سوکالي رامنځ ته کړي. صحي، پایښت لرونکې او ټول شموله خوراکي سیسټمونه د نړۍ پراختیایي اهدافو ته د رسېدو لپاره مهم دي. د کرنې پراختیا یو له خورا پیاوړې وسیلو څخه ده چې د بې وزلۍ د پای ته رسولو او ګډې سوکالۍ ته وده ورکوي، او تر 2050 کاله پورې باید د دې وړتیا ولري چې 9.7 ملیارده خلکو ته په نړیواله کچه غذا برابره کړي. د کرنې د سکتور وده د نورو سکتورونو په پرتله د بې وزلو خلګو د عایداتو په لوړولو کې د دوه څخه تر څلور چنده اغېزمنه ده. مګر د کرنې د ودې څخه پرته د بې وزلۍ کمېدل، او د خوړو خوندیتوب له خطر سره مخ دی. ډېری عوامل دي لکه COVID-19 ، نړیوال اقلیمي بدلونونه، آفتونه او د هیوادونو ترمنځ شخړې دي، چې د خوراکي توکو د تولید پر سیسټمونو منفي اغېزه کوي، په پایله کې د خوراکي توکو لوړ نرخونه او د لوږې زیاتوالی په ټولنو کې د نا امنۍ او بې ثباتۍ سبب ګرځي. په اوکراین د روسیې یرغل د خوراکي توکو نړیوال بحران ګړندی کړی دی، چې په پایله کې په نړیواله کچه په ملیونونه کسان یې خورا بې وزلۍ ته اړولي، او په 45 هیوادونو کې شاوخوا 205 میلیونه خلګ دومره لږ خواړه لري چې ژوند یې له خطر سره مخ دی، کرنه د اقتصادي ودې لپاره هم مهمه ده ځکه د نړیوال ناخالصو کورني عوایدو(GDP) 4% سلنه برابروي، او په ځینو وروسته پاته یا د پرمختګ په حال هیوادونو کې، د ناخالص کورني عوایدو شاوخواه 25% جوړوي. د نړیوال اقلیمي بدلونو مخ په زیاتېدونکي اغیزې کولی سي د کرنیزو محصولاتو کچه نوره هم کمه کړي، په ځانګړې توګه د غذایي امنیت له اړخه نړۍ به په خورا نا امنه سیمو او حالت بدله کړي. په ورته وخت کې، زموږ د خوړو تولیدي سیسټمونه د شنو خونو د ګازونو د تولید له اړخه د نړیوال اقلیم په بدلون کې شاوخواه 30% مسؤلیت لري the (World Bank, 2023). اوسني د خوړو او کرنیزو تولیداتو سیسټمونه د خلګو او د ځمکې د کُرې روغتیا ګواښي ځکه چې د ککړتیا او ضایعاتو ناپایه کچه یې رامنځ ته کړې ده. په نړۍ کې د تولید سویو خوراکي توکو درییمه برخه یا له لاسه وځي او یا هم ضایع کیږي. د خوړو د ضایعاتو مخنیوی د خوړو او غذایي امنیت د ښه کولو لپاره مهم دی، او همدارنګه د اقلیمي بدلونو په کابو کولو کې مرسته کوي کوم چې په چاپیریال باندې یې د اقلیمي بدلونونو له اړخه فشار اچوي ،د نامناسبه غذایي رژیم سره تړلې خطرونه هم په ټوله نړۍ کې د مړینې لوی لامل دی. میلیونونه خلګ یا کافي خواړه نه خوري یا د خواړو غلط ډولونه خوري چې په پایله کې د خوارځواکۍ په دوه ګونې ناروغۍ اخته کیږي ، ممکن دا چاره د ناروغیو

او روغتيا د بحرانونو لامل سي. د خوړو نه خونديتوب کولی سي د خوړو کيفيت خراب کړي او د خوارځواکۍ د مختلفو ډولونو خطر زيات کړي، چې په بالقوه توګه د ډېر وزن او چاغښت لامل کيږي. د اټکل له مخې په نړۍ کې 3 ملیارده خلک نسي کولای صحي خواړه وخوري The World (Bank, 2023).

## د بشري قوې په استخدام کې د کرنې رول:

دا څرګنده ده چې ټول ژوندي موجودات د خپل ژوند د بقا، دوام او کار لپاره و غذا ته اړتيا لري، چې د دغه غذايي اړتياوو پوره کول د کرنې څخه پرته د نورو لارو څخه ناممکن کار دی، ټول انسانان په هره برخه کې چې فعاليت کوي پرته د غذا څخه فعاليت او پرمختګ نسی کولای. د يو هيواد اقتصاد درې عمده ستني لري عبارت د کرنې، مالداری او صنعت څخه دي ، خو تر ډېره پوري د صنعت لپاره خام مواد کرنه او مالداري برابروي او د صنعت دستګاه د کرنې د ملاتړ څخه پرته نه څرخي، څکه چې هره دستګا او ماشين د جوړولو، چلاو، ترميم او تعميم لپاره بشري قوې ته اړتيا لري  دا بشري قوه د يادو کړنو د ترسره کولو لپاره انرژۍ ته اړتيا لري او دوی خپل دغه انرژي د کرنيزو سرچينو څخه تر لاسه کوي، په هغو ټولنو کې چې کرنې سمه وده نه ده کړې هلته غذايي امنيت نه دی تامين او کله چې غذايي امنيت تامين نه وي په ټولنه کې، غلا، فحشاء، سرقت، بی بندوباری ، خوارځواکي، بيلابيلي ناروغۍ او نور ټوله د کرنې د وروسته پاته والي له کبله دي. د کرنې سکټور و بشري سرچينو ته د دندو او اشغال د پيدا کولو لپاره يوه خورا پراخه سيمه ده، په دې برخه کې هر انسان د کار او کړنې وړتيا لري که ښځه وي، زوړ وي، ځوان وي، تعليم يافته وي او يا بې تعليمه ، په داسې حال کې چې نور سکټورونه ځانګړو مهارتونو او پوهې ته اړتيا لري. د يوې څېړنې د راپور پر بنسټ د نړۍ د ټول نفوس يو پرڅلورمه ($\frac{1}{4}$) برخه په مستقيم او غير مستقيم ډول د کرنې په سکټور کې بوخت دي، په دا سی حال کې چې د پاتې درو ( $\frac{3}{4}$ ) برخو څخه تقريباً نيمايي ( $\frac{1}{2}$ ) برخه ماشومان تشکيلوي، په پاته نورو برخو کې څه پورته يا کښته نيمايي سلنه ښځې تشکيلوي  ډيره لږه برخه د هغوی په اقتصادي فعاليتونو بوختي دي خو سره د دې هم په پاته ( $\frac{1}{4}$ ) برخو کې چې د نړۍ د ټولټال نفوس 25% سلنه برخه پاتيږي، په دې 25% سلنه برخو څخه نژدې نيمايي برخه يې بې کاره (بې دندې) دي داسې چې حتی صنعتي هيوادونه هم ندي توانېدلي خلګ پر کار کړي، د دې څخه دا پايله اخيستل کيږي چې په نړۍ کې د کار موندنې تر ټولو لوی سکټور د کرنې سکټور دی (Max Roser, 2023). د يو بل راپور په بنسټ چې په 2019 کال کې خپور سوی دی د نړۍ څلورمه برخه کارګران د کرنې په برخه کې استخدام دي. په 2019 کال کې په ټوله نړۍ کې د کرهنې په برخه کې د ګمارل سويو کسانو شمېر شاوخوا د 1.1 مليارد يا 40 سلنې په شاوخوا کې وو، او د 2.6 مليارد کارګرانو څخه په 2000 کال کې 884 ميليون يا 27 سلنه ته 3.3 مليارد کارګرانو ته راټيټ سوې ده، يعني دا چې د کرنې په برخه کې د نړۍ د کارموندنې برخه د 2000 او 2019 ترمنځ د 40% څخه 27% ته راټيټه سوه چې  علت يې په کرنه کې د عصري ټکنالوژۍ استعمال بلل سوی ، او همدارنګه په تيرو دوو لسيزو کې له کرنې څخه د 169 ميليونو چينايانو د وتلو او د 25 ميليونو هنديانو له وتلو سره سره، د چين او هند د هر يو هيواد څخه څه د پاسه دوه سوه (200) ميليونه کسان په کرنه بوخت دي. د افريقا په کرنه کې 225 ميليونه خلګ په کار ګمارل سوي چې د يادې قارې تقريباً نيمايي برخه نفوس جوړوي. د غذا او کرنې د نړيوال سازمان د  2019 کال راپور پر بنسټ  آسيا د نړۍ 68% د کرنې په برخه کې کارموندنې درلودې او په افريقا کې 25%  (FAO, 2021). د غذا او کرنې د نړيوال سازمان د يو بل راپور پر بنسټ په ټوله نړۍ کې د کرنې په برخه کې د ګمارل سويو کسانو له جملې څخه 37% سلنه ښځې جوړوي، مګر په ډيری افريقايي هيوادونو کې د 50 سلنې څخه ډير کار کونکې په کرنه کې کار کوي(FAO, 2021). په خوړو باندې لګښتونه په 2021 کې د متحده ايالتو د کورنيو لګښتونو 12.4 سلنه جوړوي، چې په 2020 کې د 11.9 سلنې څخه زيات سوي. د خوړو په اړه د کورنيو لګښتونو برخه د کور (33.8 سلنه) او ترانسپورت (16.4 سلنه) وروسته دريم ځای لري. د 2020 په پرتله، د ساتيرۍ/الکولي مشروباتو،خواړو،ترانسپورت، پوښاک، او "نورو" کټګوريو لګښتونه په 2021 کې يو څه لوړ سوي، او د کور، روغتيا پاملرنې، سپما، تعليم/لوستلو، او شخصي بيمې/تقاعد لپاره ونډې يو څه راټيټې سوې.  د امريکا د متحده ايالاتو د کرنې رياست (USDA) 29 ادارو او دفترونو څخه جوړه ده  نږدې 100,000 کارمندان لري  په ټول هيواد او بهر کې له 4,500 څخه زياتو ځايونو کې د امريکا خلګو ته خدمت کوي. (USDA, 2023). د خوړو او کرنې د نړيوال سازمان (FAO) د راپور له مخې په 2019 کې شاوخوا 1.23 مليارد خلګ د نړۍ د کرنې په برخه کې په کار ګمارل سوي وه، او د دې شميرې څخه درې چنده ډېر، يا د نړۍ نژدې نيمايي نفوس، په هغو کورنيو کې ژوند کوي چې د کرهنيز سيسټمونو سره تړلي دي. د دې 1.23 ملیارده خلګو څخه، 857

میلیونه یې په لومړنیو کرنیزو تولیداتو کې کار کاوه، په داسي حال کې چې 375 میلیونه یې د کرنیزو فارمونو څخه بهر، ولې د کرنیزو محصولاتو اړوند برخو کې کار کاوه (FAO, 2023). د FAO د وروستي ارزوني له مخې، نن ورځ په نړۍ کې له 969 میلیونه څخه ډیر خلگ د ورځې له یو ډالر څخه کم ژوند کوي. او شاوخوا دريږ پر څلورو برخه يې په کرنه پوري اړه لري. په حقیقت کې د دې خلگو سختي بې وزلۍ او سختي د دوی لپاره ژوند ناشونی کړی او له دې حالت یې د وتلو هیلي مړاوي سوي دي.

د ملي امنيت په عصري تعريف کي د دې پر ځای چې بهرنيو ګواښونو ته پام وسي، داخلي زيانونه يې زيات او بهرني ګواښونه لږ د اعتبار وړ دي. همدارنګه د نظامي مسايلو پر ځای، اقتصادي حالت او عوامل (د بيکارۍ کچه، انفلاسيون، د ناخالصو ملي توليداتو اندازه، د سړي سر عايد، د بهرنيو اسعارو زيرمي، او د فعالو نفوسو شمېر) تر بحث لاندي نيول سوي، په داسي حال کي چي په دوديز چلند او خبرو کي، لومړني ګواښ بهرنی ګواښ او دوهم د فوځي خطراتو ګواښ د پاملرني وړ دی. دا فکتورونه، د دولت د ورتيا سره سره ټولنيزه هوساينه او د خوړو خونديتوب په مناسبه کچه چمتو کوي، د حکومت منل او مشروعيت اغېزمنوي Iranian (Agriculture News Agency, 2014). په کرنيزو چارو کي د ګمارل سويو خلګو تر ټولو زيات شمېر (793) ميليونه په آسيا کي او وروپسې نژدې 290 ميليونه په افريقا کي په کرنيزو فعاليتونو بوخت دي. په ټيټ عايد لرونکو هيوادونو کي د اقتصادي پلوه د فعالو وګړو اکثريت، په ځانګړې توګه په افريقا کي، لږ تر لږه يوه د نده يا فعاليت د کرنيزو فعاليتونو په برخه کي لري. د اړونده سوداګرۍ او ټرانسپورټ فعاليتونو په شمول، په افريقا کي د کار 62 سلنه د کرهنيز سيسټمونو په برخه کي ده، په سلو کي 40 سلنه په آسيا کي او 23 سلنه په امريکا کي د کرنيزو چارو څخه بهر د کارموندني په برخه کي د ټولو هغو افرادو څخه چي په مستقيم ډول په کرهنيزو سکټورونو کي ندي بوخت په اروپا کي له 8 سلني څخه په افريقا کي تر 14 سلني پوري متفاوتي. په ډيرو هيوادونو کي چي د RuLIS معلومات شتون لري، هغه ځوانان چي د هغوی عمرونه د 15 څخه تر 35 کلونو ترمنځ دي په کرنيزو سيسټمونو کي د ټولو بوختو کسانو نيمايي برخه جوړوي، او د دوی ونډه معمولاً د خوړو په پروسس او کرنيزو خدماتو کي لوړه ده(USDA, 2023).

د 3.83 مليارډه خلګو څخه زياته برخه د خپل ژوندانه د تيرولو لپاره په کرنيزو چارو تکيه لري. چي له دې جملې څخه 2.36 مليارده په آسيا کي او 940 ميلونه په افريقا کي ژوند کوي. د COVID-19 وبا له کبله په لومړي کال کي په کرنيزو چارو کي د بوختو کسانو په شمېر کي د 6.8 سلني کمښت لامل سو. د COVID-19 ډيره لوړه اغېزه په لاتين امريکا کي وه ، چيري چي په دندو باندي د ګمارل سويو کسانو شمېر 18.8 سلني ته راټيټ سوي دي. د 2023 کال په اپريل مياشت کي FAO په کرنيزو فعاليتونو کي د مېرمنو د وضعيت په اړه يو مخکښ راپور خپور کړی دی، په کوم کي چي د هغوی د معلوماتو پر بنسټ په کرنيزو برخو کي کار موندنه د جنسيت له مخي جلا سوې وه، يعني دا چي په يادو برخو کي د ښځو ونډه ډېره کمه ښودل سوې وه(FAO, 2023).

هره ورځ، کرنه په منځني ډول 23.7 مليون ټنه خواړه توليدوي،چي د 2.5 مليارډه خلکو لپاره معيشت چمتو کوي، او د بې وزلو، کليوالو کورنيو لپاره د عوايدو او دندو لويه سرچينه ده. کرنه د پرمختګ په حال هيوادونو کي د ناخالصه کورني عوايدو 29% او 65% سلنه د دندو زمينه برابروي. خو د نړۍ د نفوسو چټکي ودي ته په پام سره دغه سياره بايد په 2030 کي 1.5 مليارد اضافي خلکو ته خواړه ورکړي چي90% به يې په پرمختللو هيوادونو کي ژوند کوي. او، په نړۍ کي بايد خوراکي توکو د توليد کچه % 70-60 ته لوړ کړي ترڅو تر 2050 پوري له نهو مليارډه څخه زياتو خلګو ته خواړه برابر کړي (Convention On Biological Diversity, 2018). د متحده ايالاتو (USDA) د کرني په برخه کي د اقتصادي څېړنيزو خدماتو دفتر راپور ورکوي چي د کرني او خوړو سکتورونو د دندو د موندلو په برخه کي په 2020 کي د متحده ايالاتو ( USDA) د ټولو دندو 10% چمتو کړي دي -نژدې 20 ميليون بشپړ او نيم وخته دندي چمتو کړي دي په داسي حال کي چي په وروسته پاته او غير صنعتي هيوادونو کي لکه افغانستان او داسي نورو هيوادونو شاوخوا 80% سلنه وګړي د کرني په سکتور کي اشغال لري. که پورته دلايلو ته وګورو نو معلومه سوه چي کرنه د کارموندني په ټولو سکتورونو کي تر ټولو لوی سکټور دی چي تر ټولو ډېر کسان په کار ګماري. په 2020 کي يوازي په امريکا کي 10.5 ميليونه دندي رامنځ ته کړي وې. د امريکا په متحده ايالاتو کي د USDA د اداري د راپور په وينا، د خواړو او مشروباتو د توليد په شرکتونو کي شاوخوا 1.7 ميليونه خلګ پر کار دي په لاندي جدول کي شاوخواه په پنځوسو هيوادونو کي د کرني په برخه کي د مستخدمينو شمېر ښودل سوی دی .

| ۱-جدول په مختلفو هیوادونو کې د کرنې په برخه کې د په کار ګمارل سوو کسانو شمېر( لاندې ارقام په ۱۰۰۰) کې ضربیږي | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Country | ۲۰۰۰ | ۲۰۰۵ | ۲۰۱۰ | ۲۰۱۴ | ۲۰۱۵ | ۲۰۱۶ | ۲۰۱۷ | ۲۰۱۸ | ۲۰۱۹ |
| World | ۱۰۴۷،۹۲۵ | ۱۰۴۲،۱۸۵ | ۹۸۶،۳۵۹ | ۹۱۷،۴۱۱ | ۹۱۰،۷۴۲ | ۹۰۴،۳۶۷ | ۸۹۶،۱۶۱ | ۸۸۹،۳۹۶ | ۸۸۴،۳۵۵ |
| Africa | ۱۶۰،۵۸۶ | ۱۸۱،۴۴۶ | ۱۹۵،۸۹۱ | ۲۰۴،۵۱۳ | ۲۰۶،۹۰۹ | ۲۱۰،۶۵۲ | ۲۱۴،۳۵۱ | ۲۱۸،۵۷۹ | ۲۲۳،۴۹۷ |
| Americas | ۴۰،۶۵۹ | ۴۳،۷۹۱ | ۴۱،۴۱۲ | ۴۰،۶۶۵ | ۴۰،۶۸۴ | ۴۰،۷۱۳ | ۴۱،۳۰۵ | ۴۱،۶۹۱ | ۴۲،۰۲۱ |
| Asia | ۸۰۹،۲۱۷ | ۷۸۶،۵۵۹ | ۷۲۳،۲۲۴ | ۶۴۹،۳۸۸ | ۶۴۰،۵۴۴ | ۶۳۰،۷۱۵ | ۶۱۸،۹۶۰ | ۶۰۷،۸۷۸ | ۵۹۸،۱۶۰ |
| Europe | ۳۴،۷۲۳ | ۲۷،۸۶۴ | ۲۳،۵۳۸ | ۲۰،۵۶۲ | ۲۰،۳۴۰ | ۱۹،۹۹۱ | ۱۹،۲۲۸ | ۱۸،۹۰۳ | ۱۸،۲۳۳ |
| Oceania | ۲،۷۳۰ | ۲،۵۲۵ | ۲،۲۹۴ | ۲،۲۸۳ | ۲،۲۶۶ | ۲،۲۹۷ | ۲،۳۱۹ | ۲،۳۴۵ | ۲،۳۴۴ |
| Afghanistan | ۲،۹۳۷ | ۳،۵۷۶ | ۳،۴۷۲ | ۳،۷۵۱ | ۳،۸۳۱ | ۳،۸۸۶ | ۳،۸۸۷ | ۳،۹۸۷ | ۴،۰۷۴ |
| Albania | ۵۷۸ | ۵۱۴ | ۴۴۹ | ۴۳۸ | ۴۴۴ | ۴۴۱ | ۴۲۶ | ۴۳۴ | ۴۲۷ |
| Algeria | ۱،۳۸۵ | ۱،۵۶۰ | ۱،۱۸۲ | ۱،۰۹۲ | ۱،۰۷۹ | ۱،۰۹۶ | ۱،۰۷۸ | ۱،۰۷۵ | ۱،۰۷۱ |
| Angola | ۲،۶۲۲ | ۲،۹۲۳ | ۴،۲۳۴ | ۵،۱۹۱ | ۵،۳۶۶ | ۵،۵۶۵ | ۵،۷۶۱ | ۵،۹۶۸ | ۶،۱۷۵ |
| Argentina | ۹۳ | ۱۹۸ | ۲۱۵ | ۹۷ | ۴۷ | ۳۳ | ۱۱ | ۱۸ | ۱۷ |
| Armenia | ۴۶۹ | ۴۲۲ | ۴۱۰ | ۳۸۷ | ۳۸۵ | ۳۶۳ | ۳۳۶ | ۳۲۷ | ۳۲۱ |
| Australia | ۴۳۳ | ۳۵۵ | ۳۶۰ | ۳۲۷ | ۳۱۴ | ۳۱۶ | ۳۱۸ | ۳۲۷ | ۳۲۳ |
| Austria | ۲۲۶ | ۲۰۱ | ۲۱۳ | ۲۰۳ | ۱۹۱ | ۱۸۶ | ۱۷۰ | ۱۶۳ | ۱۵۹ |
| Azerbaijan | ۱،۲۷۷ | ۱،۴۴۲ | ۱،۶۰۳ | ۱،۶۶۹ | ۱،۶۸۰ | ۱،۷۱۲ | ۱،۷۳۷ | ۱،۷۵۷ | ۱،۷۳۴ |
| Bahamas | ۶ | ۵ | ۵ | ۴ | ۵ | ۴ | ۴ | ۴ | ۴ |
| Bahrain | ۵ | ۶ | ۸ | ۸ | ۸ | ۸ | ۹ | ۹ | ۱۰ |
| Bangladesh | ۲۹،۱۳۱ | ۲۵،۶۸۰ | ۲۶،۱۱۲ | ۲۶،۰۲۸ | ۲۶،۰۱۶ | ۲۵،۹۹۵ | ۲۶،۱۹۰ | ۲۵،۹۸۴ | ۲۵،۸۷۶ |
| Barbados | ۶ | ۵ | ۴ | ۴ | ۴ | ۴ | ۴ | ۴ | ۴ |
| Belarus | ۶۲۱ | ۵۷۷ | ۵۲۳ | ۴۷۵ | ۴۶۴ | ۴۶۵ | ۵۱۲ | ۵۴۶ | ۵۲۹ |
| Belgium | ۷۹ | ۸۷ | ۶۱ | ۵۶ | ۵۴ | ۵۸ | ۵۵ | ۴۸ | ۴۷ |
| Belize | ۲۱ | ۱۹ | ۲۳ | ۲۵ | ۲۶ | ۲۸ | ۲۷ | ۲۸ | ۲۸ |
| Benin | ۱،۲۹۲ | ۱،۴۵۷ | ۱،۵۹۸ | ۱،۶۷۱ | ۱،۷۱۱ | ۱،۷۴۷ | ۱،۷۷۲ | ۱،۷۹۲ | ۱،۸۲۳ |

Source: (FAO, 2018)

**د ټولنې په اقتصاد کې د کرنې رول:**

کرنه پر نړیوالي سوداګرۍ باندې اغېزه لري ، ځکه چې کرنه د اقتصاد له نورو سکتورونو سره تړاو لري او د کار موندنې لوی ملاتړ کونکی سکتور دی او یو هیواد اقتصادي پراختیا ته هڅوي. د USAID په وینا، هغه هیوادونه چې قوي کرهنیز سکتور ولري په نورو سکتورونو کې د کارموندنې وده هم تجربه کولای سي. په هغو هیوادونو کې د کرنیزو محصولاتو وده او د کرنیزېرښنا پیاوړې وي د سړي سر عاید هم لوړ دی، ځکه چې په دې هیوادونو کې کروندګر د ټیکنالوژۍ او د فارم د مدیریت د کړنلارو له لارې نوښت کوي او د هغوی کرنیز محصولات زیاتیږي او ګټې یې وده کوي(USDA, 2020) .

د کرنې، ځنګلونو او کب نیولو څخه په 2018 کال کې 3.4 ټریلیون ډالره تر لاسه سوي دي. چې د ټولې نړۍ د ناخالصه کورنې عوایدو( 85 ټریلیون ډالرو) څلور (4%) سلنه برخه جوړوي. د وچې (قارې) له مخې په نغدې ډول د کرنې د برخې تر لاسه سوي پیسې په اسیا کې 2.2 ټریلیونه ډالره، په امریکا کې 480 میلیارده ډالره، په افریقا کې 397 میلیارده ډالر، په اروپا کې 328 میلیارډه ډالره او په اوقیانوس کې 45 ملیارډه ډالره. په تیرو دوه لسیزو کې په آسیا کې د ناخالصو داخلي عوایدو کچه راټیټه سوې ده، ځکه چې غیر کرنیز اقتصاد پراخ سوی ، مګر په افریقا کې یې بیا وده کړې ده **(FAO, 2018).**

په 2019 کې شاوخوا 690 میلیونه خلګ د خوارځواکۍ ښکار سوي چې 55 سلنه یې په آسیا کې دي. په هر صورت، افریقا په 2019 کې د خوارځواکۍ تر ټولو لوړه کچه 19 سلنه درلوده، چې د نورو بر اعظمونو په پرتله نژدې 10 سلنه ده،د خوارځواکۍ کچه دوه برابره ده (FAO, 2018).

چې دا هم د کرنې د ناسمې ودې له کبله بلل کیږي. په ټولنه کې، غلا، فحشاء، سرقت، بې بندوباری ، خوارځواکي، بېلابیلې ناروغۍ او نور ټوله د کرنې د وروسته پاتوالي له کبله دي. په 2019 کې شاوخوا 690 میلیونه خلګ د خوارځواکۍ ښکار سوي چې 55 سلنه یې په آسیا کې دي. په هر صورت، افریقا په 2019 کې د خوارځواکۍ تر ټولو لوړه کچه 19 سلنه درلوده، چې د نورو بر اعظمونو په پرتله نژدې 10 سلنه د خوارځواکۍ کچه دوه برابره ده (FAO, 2018).

په 2021 کې د کرنې، خوړو او د دوی اړونده صنعتونو 5.4 سلنه د متحده ایالاتو سره مرسته وکړه او د متحده ایالاتو سره د ناخالصه کورنې تولیداتو 10.5 سلنه کرنه چمتو کړې ده. د خوړو په برخه کې د امریکایانو لګښتونه په اوسط ډول د کورنۍ بودیجې 12 سلنې ته رسیږي. د فدرالي حکومت د کرنې او خوړو پر برنامو باندې د لګښتونو په منځ کې ، د نورو برنامو په پرتله د تغذیوي برخې لګښتونه خورا ډېر دي Maryville) University,2023).

د یو بل راپور په بنسټ چې په 2020 کال کې خپور سوی دی د کرنیزو محصولاتو څخه نغدې لاسته راغلي عواید نېدې 198 ملیارډه ډالرو ته رسیږي، او همدارنګه د څارویو او حیواني محصولاتو نغدې لاسته راوړنې هم تولټال ۱۶۵ میلیارډه ډالره ښودل سوي دي، چې د کرنیزو محصولاتو د نغدې لاسته راوړنې څخه ډېر شاته پاته نه معلومیږي. د ملي او زیربنایي امنیت اداري (CISA) په وینا ، د نورو سکتورونو سره د خوراکي توکو او کرنې سکتور د متقابل انحصار ، په شمول د اوبو او فاضله اوبو سیستمونه، ترانسپورت سیستمونه ، انرژیکي او کیمیاوي مواد او تولیدات ،د اقتصادي فعالیت لپاره یو مهم انجن جوړوي. کرنه هم په مستقیم او غیر مستقیم ډول د متحده ایالاتو په عمومي ناخالص کورنې تولیداتو (GDP) کې د مرستې له لارې پر اقتصادي پراختیا اغېزه کوي. دا د کرنې د تولید، ځنګلونو، کب نیولو فعالیتونو، د ټوکرانو کارخانو او محصولاتو، د جامو او خواړو او مشروباتو پلور، او خدماتو او تولیداتو له لارې ترسره کوي (USDA, 2020). په زراعتي فعالیتونو کې ځنګلونه او د اوبو په فارمونو یا د دوی په طبیعي استوګنځې کې کب نیولو هنر او اشغال هم شامل دی. په همدې ډول د نساجۍ په

برخه کې کارخانه یې محصولات لکه  د پنبې د صنعت څخه په کال کې د 21 ملیاردو ډالرو په ارزښت محصولات او خدمات تولیدوي.

**په ورځنې ژوند کې د کرنې اهمیت:**

د زرګونو کلونو را پدېخوا کرنه په ورځنې ژوند کې مهم رول لوبولی دی. کرنه د ژوند په بېلابېلو برخو کې د پام وړ اغیزې لري، د مختلفو برخو ملاتړ او تکیه پر کرنې باندې ده، لکه د خامو موادو برابرول، د اقتصادي پرمختګ هڅول، د اقتصادي پرمختګ هڅول، د څارویو خواړه، د طبیعي ربړ تولید، د جامو لپاره د خامو موادو تولید، بایو سونګ، صنعتي محصولات، د درملو محصولات، پاکونکي مواد او نورو برخو کې اړینې توکې چمتو کوي. چې په لاندې ډول به د هرې برخې لنډه یادونه وسي (Maryville University,2023).د کرنې څخه مخکې د څارویو د ښکار له لارې خپل ژوند او د ژوند بقا تامینول. دا د کښت د پلان څخه مخکې دوره وه چې په دې وخت کې بشر د نباتاتو د کرلو او راټولولو سره بلدتیا نه درلودل.  په وروسته کې انسانانو د خپل ځان د ساتلو لپاره د لا زیاتو ګټورو وسیلو سره د کرنیزو محصولاتو د ښه کولو او لوړولو لپاره وسایل او کړنې رامنځته کړې،  د کرنې په برخه کې نوښتونه او صنعتونه یې رامنځته کړل، او د عصري دورې د منځته راتګ لامل سو. په نننې ورځنې ژوند کې هم د کرنې اهمیت کم نه دی. د کرنې د سکټور څخه پرته، فعالیتونه لکه د کار لپاره جامې اغوستل او د کور پاکول به ممکن نه وي. دلته د هغو کرنیزو محصولاتو مثالونه دي چې موږ یې په ورځنې ژوند کې کاروو لکه سرپناه، د سونګ لرګي، پوښاک، درمل، انساني او حیواني خواړه او همدارنګه د نباتي تولیداتو پر بنسټ توکي، لکه بانس، د کور دننه سینګار او ساختماني موادو لپاره کارول کېدی سي. پودینه اکثرآ د غاښونو په پیسټ (کریم) کې کارول کیږی ، د غاښونو برش کولو پر مهال خوند اضافه کوي ، او په کافي کې کافین تاسو ویښ ساتي  او په همدې ډول کرنیز محصولات د ورځنې فعالیتونو لپاره اړیني سرچینې چمتو کوي، لکه: په سهار کې د کار لپاره چمتو کول،قهوه،جامې؛ په صابون سره لاسونه مینځل؛ د سفر لپاره د موټرو تېل ورکول؛ خواړه چمتو کول او خوړل؛ او د درملو او نورو اړخونو لپاره کرنه ډېره مهمه ده. صنعت د کارموندنې مختلف چانسونه او رولونه رامنځته کړې دي ، لکه کروندګر ، پلورونکي او پېرودونکي، چې په فارمونو او د ټوکر په کارخانو کې، د پنبې د لېږدولو په برخه کې په دفترونو او ګودامونو کې او داسې نور ځایونو کې. د جامو، خواړو او مشروباتو پلور چې د کرنیزو تولیداتو پورې اړوند دي نن په یوکار و بار بدل سوي دي، نو د کرنیزو محصولاتو څخه د جوړ سویو محصولاتو د پلور په برخه کې هم ډېری پر کار دي. په کرنه کې د پلور د برخې کلیدي اړخ د کروندګرو سره د ظرفیت په لوړولو او د بازار د متحرکاتو په پوهېدو کې مرسته کول دي، ترڅو د پېرودونکو اړتیاوې پوره کړي ، چې ډېری یې د خوراکې خدماتو او د خوړو او څښاک ځایونو کې زیات شمېر خلګ پر کار دي. د پرمختګ لپاره د کرنې اهمیت له ډېرې مودې راهیسې پېژندل سوی دی. کرنه د  ډېر ټیټ عاید لرونکو هیوادونو د اقتصاد د ملا تیر او لوی مرسته کونکی فکټور دی، او د بهرنیو اسعارو لوی عاید او تر ټولو مهمه برخه ده. د نړۍ تر ټولو بې وزله خلګ د ژوند لپاره په کرنه تکیه کوي. په ټولیزه توګه د پرمختګ، بریالیتوب یا ناکامی اکثرا د هغه څه پایله ده چې په کرهنه کې پیښیږي. د کرنې او ټولنیزې سولې ترمنځ د اړیکې ارزښت تر هغه لږ ښودل سوی او پیژندل سوی کوم چې په واقعیت کې د ټولنې د سولې او پرمختیا سره یې لري، که څه هم په یاد تړاو کرنه ډېره مهمه او ارزښت لرونکې ده(UNU-IAS 2004). کله چې کرنه د ښه ژوند لپاره د خلګو د هیلو په پوره کولو کې پاته راسي، په پایله کې په ټولنه کې د شتمنو خلګو او دولتونو لخوا د عوام فریبي زمینه په آسانی سره مساعده کیږي، او کارول کیږي، د غریبو خلګو د مجبوریت څخه غلطه ګټه اخیستل کیږي. څرګنده ده چې غربت د بډایو، جنایتکارانو او هغو مشرانو لپاره د بشري استخدام سرچینه ده کوم چې د مذهبي، قومي، سمتي، ژبني او سیاسي کرکې او ګټې اخیستنې او همدارنګه د اور اچولو نیت لري؛ له همدې امله د پراختیا، ناکامی، غلا، قتل، سرقت، قطاع طریقي، اختطاف او جګړې یو مهم لامل بی روزګاري او کافي غذا ته د بشر نه لاسرسي دی. دوهم دا چې تولیدي شتمنیو ته لاسرسی چې په کلیوالي معیشت پورې اړه لري لکه ځمکه، اوبه، ځنګلونه، او ماهیان کیدای سي، په حقیقت کې د کلیوالو کورنیو لپاره د ژوند او مرګ مسله وي یعني کله چې کرنه د پښو وغورځي نو د ټولنې تقریباً اکثریت خلګ د غربت او بې روزګارۍ ښکار دي. دوی د کرنې د سکټور څخه پرته د خوړو خوندیتوب یا لوړ عاید د ترلاسه کولو چانس نه لري، او دوی نسې کولای چې په نورو سټکورونو کې کار پیدا کړي، ډېری وختونه کرنه د هغوی د کار او خپلو د اولادونو د بقا او تغذیې لپاره پر کرنې تکیه لري او د دې څخه پرته په ټولنه کې د تاوتریخوالي، نا امنی، داخلي بې ثباتی او د نورو شتمنو هیوادونو د لاس وهنې او مداخلې لپاره د سیالی مرکز وي (عسکری، 2017). د ټولنې اکثره برخه کوم چې بې تعلیمه او بې مهارته برخه ګڼل کیږي. طبیعي پانګو (اوبه ، ځمکه، کانونو) ته د نابرابري لاسرسی له امله د شخړې خطر زیاتوي. په نړۍ کې کرنه او سوداګرې دواړه په ګډه د ټولنې د ثبات او پراختیا فرصتونه وړاندې کوي، په داسې حال کې چې ځینې زیانونه د اجناسو د بیو (قیمتونو) ټکانونه کولی سي په یو هیواد کې د ژورو بحرانونو لامل سي،

او په بدترين حالت کې، د عوايدو ضايع کېدل او کمېدل کولی سي، چي د يو دولت د ناکامۍ لامل وګرځي. ولي ځيني طبيعي پيښې لکه وچکالی او سېلابونه کولی سي، کرنيزې ټولنې کمزوري کړي، او همدارنګه ناڅاپي اقليمي بدلونونه په تاريخي توګه د تمدنونو او کرنيزې ټولنې د له منځه تګ او ختمېدا سبب ګرځي، پس په ټوله کې ويلای سو چې سوله د کرنې له بريالیتوبونو سره نږدې تړلې ده. په ټوله کې د ټولنې د امنيت او ثبات لپاره د کرنې د پراختيا لپاره ملي ستراتيژي بايد دا اړينه په پام کې ونيسي، او په نړيواله کچه بايد د دې سکتور ملاتړ وسي (ماکسوئيل و سيمون 1379).

کرنه د دندو د غوښتنې ټولګه ده چي پېچلتياوي بايد کمې اټکل نسي؛ ملي پاليسي هم ډېری وختونه په خپل هدف کې پاته راځي ټولنيزه سوله، او نړيوالي کړنې کله ناکله د هيواد ژمنتيا کمزورې کوي دا مقاله هغه مسلې په ګوته کوي چي د پراختيا له ناکامۍ څخه پيلېږي او د کرنې هغه اړخونه چي د کليوالي نابرابرۍ په اړه بحث ته ځي او د طبيعي پانګې په اړه اړونده سيالي، او همدارنګه د جګړې په ختمولو او پيلولو کې د کرنې رول بيانوي. بې وزله هيوادونه پخپله کولی سي چي د کرنې د پرمختګ له لارې پرمختګ وکړي ، مګر بډايه نړۍ بايد هم ورته کرنه تر سره کړي، تر ټولو مهم شی د نړۍ په کچه د کرنې تجارت دی چي د جګړې او امنيت لپاره اغېزې لري. دا جوته ده چي ډيموکراسي د سوکالۍ څخه پيروي کوي او يا دا چي د يموکراسۍ لپاره ښه بستر امنيت او ثبات دی او د امنيت او ثبات لپاره غذايي امنيت او غذايي امنيت د کرنې د پرمختګ څخه پرته ناشونی دی، دکرهنې پراختيا د سولې او ډيموکراسۍ د غوړېدلو لپاره د سياسي ستراتيژيو ملاتړ کوي. په دې مقاله کې د کرنې په برخه کې هغه خنډونه او محدوديتونه په ګوته کېږي چي کرنه د ناکامۍ سره مخامخ کوي لکه د نړيوال اقليم د بدلون خطرونه، د آفاتو او امراضو حملې، د وچکالۍ اغيزې او داسي نورو په ګوته کولو سره پای ته رسيږي د خوړو خونديتوب - او په دې توګه په غريبو هيوادونو کې ټولنيز ثبات پرته د کرهنې څخه ناشونی دی (ماکسوئيل ، سيمون 1379) او (ماندل، رابرت 1379). د خوړو خونديتوب هغه دی چي ټول خلګ، په هر وخت او هر ځای کې فزيکي، ټولنيز ،اقتصادي او کافي، مغذي خوړو ته لاسرسی ولري کوم چي د فعاله او سالم ژوند لپاره د دوی غذايي اړتياوې او خواړه پوره کوي. د خوړو خونديتوب څلور ستنې لري لکه د خوړو شتون، لاسرسی، کارول او دوام (CFS, 2009). په ټوله کې کرنه په لاندې برخو کې خدمات او مواد وړاندې کوي

**۱.د خامو موادو برابرول:**

خام کرنيز مواد د نړيوال اقتصاد بنسټيز توکي دي. خامو موادو ته د لاسرسي پرته، توليدونکي نسي کولای محصولات جوړ کړي. غير زراعتي خامو موادو کې فولاد، منرالونه او سکاره شامل دي. په هر صورت، ډېری خام مواد د کرنې څخه ترلاسه کيږي - د ساختماني موادو لپاره د لرګيو څخه نيولې تر بوټو پورې د خوړو د خوند اضافه کولو لپاره، د خواړو د توليد لپاره، د درملو د توليد او پوښاک لپاره، د سونګ د موادو توليد. د نباتاتو محصولات چي په بېلابيلو صنعتي غوښتليکونو کې کارول کيږي، لکه چپکونکي، کوټينګونه، او رنګونه چي په ساختمان کې کارول کيږي (Maryville University,2023).

**۲.مېوې او سبزيجات**

مېوې او سبزيجات د انسان په غذايي رژيم کې د فايبر ، پروټينونو او کاربوهايډريټ لازمي سرچينې دي. ويټامينونه لکه A، C، E، او منرالونه لکه مګنيزيم، زنک او فاسفورس په طبيعي ډول په ډېرو مېوو او سبزيجاتو کې شتون لري. د صحي ګټو سربېره، مېوې او سبزيجات انسان ته خوند ورکوي. (USDA,2020)

**۳. د څارويو خواړه**

ځيني مېوې او سبزيجات د څارويو لپاره د تغذيې چمتو کولو لپاره کرل کيږي، د چرګانو د تغذيې څخه نيولې بيا تر څارويو پورې. په امريکا کې د خوړو صنعتي ټولنه راپور ورکوي چي شاوخوا 900 د څارويو د خواړو اجزا په متحده ايالاتو کې د قانون لخوا تصويب سوي په دې کې هغه اجزا او برخې شاملي دي چي د کرنيزو محصولاتو څخه لاسته راځي ،لمه واښه، غلې، دانې ، غوړي او داسي نور (Maryville University,2023)

**۴.د طبيعي ربړ توليد:**

د هيجز او شرکت د بازار د څېړنې له مخې په نړۍ کې د موټرو شمېر له 1.4 مليارد څخه اوښتی دی. هر يو پر ربړ ټايرونو باندې چليږي. د GEP په وينا، د ربړ لوړ توليدونکي هيوادونه تايلينډ، اندونيزيا او ماليزيا دي، په ټوليز ډول د نړۍ د طبيعي ربړ د توليد نږدې 70% توليدوي - او نږدې 90% عرضه کوونکي د کوچنيو کچو بزګران دي (Maryville University,2023).

**۵. د جامو لپاره پنبه:**

له پنبې څخه تر جامو پورې، سفر د کرهنيز توليد سره پيل کيږي. پنبه کرل کيږي، راټوليږي، او بيا پروسس کيږي، ټوټې کيږي او بيا د ټوکر په بڼه اوبدل کيږي.مخکي له دې چي د جامو يوه ټوټه سي. د پنبې توليد د

نړیوالې عرضې پراخه لړۍ پوښي، او د راتلونکې لپاره د فورم نومې عالم په وینا، دا یو مخکښ توکی دی، چې د نړۍ په کچه د ټولو ټوکرې یا ټکه یې فایبرونو نژدې %31 جوړوي (USDA,2020)

**٦. بایو سونګ:**

د متحده ایالاتو د چاپیریال ساتنې اداره ( EPA)د بایو تیلو د تولید له اړخه د ښه او مناسب اقتصاد راپور ورکوي چې د بایوماس سرچینو څخه تولید سوي مواد دي د کرنیزو محصولاتو لکه جوارو ، سویابین ، ګنې، جغندرو اونورو څخه عبارت دي. د کرنې د ګټو په لړ کې د شنو خونو د ګازونو او ککړتیاو د کمولو ترڅنګ د بزګرانو لپاره د عاید د زیاتوالي برخه یادولای سو. په هر صورت، د بایو ډیزل تولید د ځمکې او اوبو سرچینو کارولو ته اړتیا لري چې کولی سي د خوړو لګښتونه اغېزمن کړي( Maryville University,2023

**٧.صنعتي محصولات:**

د بایو تولیداتو پر بنسټ کیمیا د صنعتي محصولاتو د پراختیا لپاره د بایو ماس څخه ترلاسه سوي خام مواد کارول شامل دي. مختلف صنعتي محصولات چې د بایومس پر بنسټ د کیمیاوي موادو څخه ترلاسه سوي دي عبارت دي له بایوپلاستیک، نباتي تېل، بایولوبریکنټونه،رنګونه، صابون، او سرې. د بایو تولیداتو پر اساس کیمیاوي توکي او محصولات د دودیزو محصولاتو بدیل وړاندیز کوي چې د پټرولیم محصولاتو څخه ترلاسه کیږي. د بایو پر بنسټ کیمیا د شنه کیمیا یو ډول ګڼل کیږي، ځکه چې دا په صنعتي تولیداتو کې د چاپیریال د اغیزو کمولو ته وده ورکوي(USDA,2020).

**٨. د درملو محصولات:**

د زرګونو کلونو را پدېخوا، انسانانو د خپل غذا او بقا لپاره د نباتاتو روزنې او پالنې ته مخه کړې ده. د مثال په توګه، د ادرک د نبات ریښه چې معمولاً په چایو کې مصرف کیږي، کولی سي د هضم سره مرسته وکړي. د نباتاتو او بوټو څخه ترلاسه سوي مواد هم کولی سي روغتیا ته د پاملرنې په برخه کې سره مرسته وکړي. د مثال په توګه، د فاکسګلو نبات څخه استخراج سوي کیمیاوي توکي د ډیګوکسین لپاره کارول کیږي، ډیګوکسین یو ډول درمل چې د زړه د ناکامی لپاره کارول کیږي. بله بېلګه پولیلیکټیک اسید ( PLA) دی، چې په کیمیاوي ډول تولیدیږي کله چې ګلوکوز په شنو بوټو کې لیتیک اسید ته خمیر کیږي. د یوې څېړنې له مخې چې د انجنیری د ریجنریشن په برخه کې د PLA استعمال د زړه د امپلانټونو، ارتوپيډیکو مداخلاتو لکه د سرطان د ناروغی درملنه، او د جراحي امپلانټونو په جوړولو کې د استعمال پراخ ځایونه لري( Maryville University,2023

**٩.پاک کونکې مواد:**

دوه ډوله کیمیاوي توکي چې په صابون کې کارول کیږي، د پاکولو محصولات، او د حمام یا لاسي صابون – سرفیکټینټ (د دوه غیر منحل کېدونکو موادو د انحلال ماده) چې په پایله کې په پاک کونکې محلول بدلیږي چې دا هم د نباتي محصولاتو څخه تولید کېدای سي. د کار لپاره تګ بېله موټر او وسایلو څخه نسې کېدای، او وسایل بېله ټایرونو او بایو ډیزل څخه پرته کوم چې د نباتي محصولاتو څخه تولیدیږي او همدارنګه ایتانول هم د جوارو څخه سرچینه اخلي. د ونو څخه کاغذ تاسو ته د لیکلو وړتیا درکوي، او د موسیقی ځینې وسایل، لکه د سورنا، د بوټو څخه جوړ سوي موادو ته اړتیا لري. د زده کړې په برخه کې له پنسلونو (اوس هم ډېری وختونه د لرګیو څخه جوړ سوي) د درسي کتابونو کاغذ او داسې درسي مواد اکثراً په زراعتي محصولاتو تکیه لري(USDA,2020)

## پایله

د دې مقالې د معلوماتو او موادو څخه دا جوته سوه چې د ټولنې، هیوادونو او نړۍ د سولې او ثبات لپاره، د ناروغې د مخنیوي او د غلا، سرقت، فحشاء، فساد او بې بندو بارۍ مخنیوی هغه وخت شونی دی چې غذایي امنیت تامین سي. او غذایي امنیت هغه وخت تامین بلل کیږي، چې د نړۍ هر وګړي ته په هر وخت او ځای کې په کافي او مساوي اندازه غذا ورسیږي. اوسنې اقتصاد پوهان او د جنګې تکتیکونو پوهان ټوله پر دې باندې متفق دي چې د سولې د راوستو لپاره باید عادلانه او منصفانه غذایي رژیم او وېش صورت ونیسي، او دا هغه وخت شونې ده چې کرنه پرمختګ وکړي، او په عصري ټیکنالوژۍ سمبال سي، او همدارنګه د دې لپاره چې غذا یې امنیت تامین سي، او د نړۍ ټولو خلګو ته په مساوي وخت مساوي غذا ورسیږي، نو یواځنۍ لاره د کرنې پرمختګ لکه څنګه چې مخکې وویل سول پرمختللې ماشینري او د ناروغیو او ناسمو اقلیمي شرایطو په وړاندې غښتلې او مقاومه ورایټي وکرل سي، نو د دیې لپاره غذا پوهان او کرنپوهانو تلاش کړی دی چې دغه جدي خطر له منځه یوسي .نو د همدې اړتیا پر بنسټ او د دې لپاره چې یاده ستونزه حل سي په 1994 کال د غذایي امنیت د تامین لپاره نړیوال کنفرانس ( World Food Conference) جوړ سو ، د دې کنفرانس په پاې کې دوې د Food Security اصطلاح رامنځته کړه(FAO, 1983) . دFood Security اصطلاح د غذایي تامین او غذا رسونې هغه حالت ته ویل سوه، چې د نړۍ هر وګړی د نړۍ په هر ګوټ ،هر ځای او هر وخت کې د خپل اړتیا وړ غذایي موادو ته لاس رسی ولري .داسې شواهد وجود لري چې 10000کاله

وړاندي په پخواني چين او مصر کي مرکزي مقامات د لوږي او قحطی په وخت کي غذايي توکي ذخيره کوله، لکه څنګه چي مخکي وويل سول په 1994کال کي د خوړو او غذا په نړيوال کنفرانس کي د غذايي امنيت اصطلاح پر عرضې باندي د ټينګار پر بنسټ تعريف سوه.دوي وويل چي Food Security هغه حالت ته ويل کيږي کوم چي د نړۍ ټول وګړي د خپل صحت د تامين او سالمي ودي لپاره په هر وخت او زمان کي مناسبي غذا ته په مناسبه بيه لاسرسی ولري.وروستی تعريف کوم چي په 1996کال کي د غذايي امنيت د تامين کنفرانس له خوا د ناستي څخه وروسته د تقاضا او غذايي موادو ته د لاسرسي مسائلو پر بنسټ وضع سو په دې ډول دی :غذايي امنيت او غذايي تامين هغه وخت وجود درلودلاي سي چي کله د نړۍ ټول وګړي په هر وخت او زمان کي په فزيکي او اقتصادي ډول و کافي ،بې خطره او مغزي غذا او غذايي موادو ته لاسرسی ولري، تر څو خپل غذايي اړتياوي او غذايي ترجيحات د يو ښه ،فعاله او سالم ژوند لپاره برابر او تامين کړی سي. کورنی غذايي امنيت هغه وخت وجود درلودلی سی چي د کور ټول غړي په هر زمان کي د خپل فعاله ،سالم ژوند او ودي لپاره کافي غذا ته لاسرسی ولري .د امريکا متحده ايالاتو د کرهنی د وزارت په وينا هغه کسان چي په غذايي امن کي ژوند لري هغه په لوږه او يا د لوږي څخه په بيره کي ژوند نه کوي ،او له بل پلوه نا امنه غذايي حالت هغه حالت ته ويل کيږي چي وګړي د قبول وړ کافي او مناسبي غذا ته په قابل قبولو لارو او طريقو باندي محدوده لاسرسی ولري، او يا هيڅ لاسرسی ونه لري .غذايي امنيت د راتلونکو اختلالاتو او يا مهمو غذايي موادو ته د نه لاسرسي په وړاندي د مقاومت اندازې ته شامليږي کوم چي د مختلفو عواملو پر بنسټ لکه وچکالي،ترانسپورټي اختلالات او ګډوډي ،د سونګ د موادو کمښت ،اقتصادي بې ثباتي چي د جګړې له کبله منځ ته راځي .په 2013-2011 کلونو کي 842 ميليونه خلګ د ژوري لوږي سره لاس او ګرېوان وه ،د کرني او غذا د نړيوال سازمان د راپور پر بنسټ د نړيوال غذايي امنيت لپاره څلور بنسټه دغذايي تامين لپاره ګڼي اخيستني ته چمتو او مشخص کړه ( پور، 1399).

## سپاربښتني

۱-دولت بايد د هيواد د غذايي امنيت د تامين لپاره د کرنيز سکټور د تقوي لپاره مهمي ستراتيژۍ او پاليسۍ جوړي کړي.

۲-داچي کرنيز سکټور د بشري قوې د استخدام لپاره د کارموندني يو مهم سکټور دی نو دولت ته پکار ده چي د افقي کرني په موخه د اوبو بندونه او کانالونه جوړ سي تر څو د کرني لمنه پراخه سي ،په پايله کي ډېره بشري قوه د کرني په برخه کي په کار وګمارل سي.

۳-دا چي نفوس ورځ تر بلي زياتيږي او ځمکه د تنګېدو په حال کي ده او د بلی خواه څخه د نړيوال اقليم د تغيراتو په وجه د کرني اکثره پخواني او محلي ورايټياني خپل توليدي قوه د لاسه ورکوي ،نو په کار ده چي پر زيرک زراعت باندي کار وسي، او د اقليم د تغير سره سم بايد نوي ورايټياني توليد سي تر څو په ټولنه کي غذايي امنيت تامين سي او په پای کي سوله او ثبات تضمين سي.

## اخځليکونه


ماکسوئيل ، سيمون (1379)، "امنيت غذايی از ديدگاه فرانوگرايی"، ترجمه پرناز صديقی و بيتا صميمی، ناشر: موسسه پژوهشهای برنامه ريزی و اقتصاد کشاورزی، تهران.

ماندل، رابرت (1379) ، "چهره متغير امنيت ملی"، ترجمه پژوهشکده مطالعات راهبردی، انتشارات پژوهشکده مطالعات راهبردی، چاپ دوم، تهران ..نصری، قدير (1380) ، "نفت و امنيت ملی جمهوری اسلامی ايران"، انتشارات پژوهشکده مطالعات راهبردی، تهران ..نوروزی، فرح آرا و بيتا صميمی (1381) ، "ترازنامه غذايی ايران 1368 -1380: ارزيابی روند توليد و عرضه مواد غذايی در کشور از ديدگاه تغذيه ای"، ناشر: موسسه پژوهشهای برنامه ريزی و اقتصاد کشاورزی، تهران.

آزر، ادوارد ای. وچونگ اين مون ( 1379 ) "امنيت ملی در جهان سوم"، ترجمه پژوهشکده مطالعات راهبردی، انتشارات پژوهشکده مطالعات راهبردی، تهران.

رنجبر، مقصود (1378)، "ملاحظات امنيتی در سياست خارجی جمهوری اسلامی ايران"، انتشارات پژوهشکده مطالعات راهبردی، تهران.

شيخ الاسلام، ربابه (1375)، "چرخه شوم سوء تغذيه"، در مجموعه مقالات گردهمايی بررسی مسئله فقر و فقرزدايی ، جلد اول، تهران.

فر، افشين اسماعيلی (۱۳۹۲). کشاورزی و امنيت غذايی؛ اولويت مهم امنيت ملی :Iranian Agriculture News Agency

زارع مهرجردی, یحیی, & امیری. (2022). پویایی‌شناسی تاثیر عوامل منتخب امنیت غذایی بر امنیت ملی. فصلنامه بین المللی ژئوپلیتیک, 18(67), 256-288.

چیذری امیرحسین, حسینی فرزانه, & حسینی سیدصفدر. (2022). تأثیر سیاست های ارزی و تجاری بر امنیت غذایی در کشور.

چیذری, حسینی, سید صفدر, حسینی, & فرزانه. (2022). تأثیر سیاست‌های ارزی و تجاری بر امنیت غذایی در کشور. Agricultural Economics, 16(2), 103-118.

عسگری, ن., ناصر, عزتی, و فرجی راد. (2017). تحلیلی بر نقش قومیت (اکراد) در سازمان میادین شهرداری تهران با توجه به تحولات خاورمیانه (با تاکید بر واگرایی و امنیت غذایی. فصلنامه علمی و پژوهشی نگرش های نو در جغرافیای انسانی, 9(4), 121-139.

The Development of Agriculture National Geographic Society education.nationalgeographic.org. National Geographic Society. 2022-07-08.

Convention On Biological Diversity. (2018). 2.6 Billion People Draw Their Livelihoods Mostly From Agriculture (https://www.cbd.int/article/biodiversityforfood-1)

Addison, T. (2005). *Agricultural development for peace* (Vol. 7).

Mercader, J. (2009). "Mozambican grass seed consumption during the Middle Stone Age". *Science*. 326 (5960): 1680–1683.

**THE WORLD BANK-** Agriculture and Food, (2023). Agriculture can help reduce poverty, raise incomes and improve food security for 80% of the world's poor, who live in rural areas and work mainly in farming. The World Bank Group is a leading financier of agriculture (https://www.worldbank.org/en/topic/agriculture/overview)

(2022). World Hunger Facts and ,World Hunger Facts Figures (https://concernusa.org/news/world-hunger-facts)

International Conference on Non-Trade Concerns in Agriculture (2000), Food Security and the Role of Domestic Agricultural Production. Norway, www.if Pri.Org.

Riely, F., *et al.* (1999), Food Security Indicators and Framework for use in the Monitoring and Evaluation of Food Aid Programmes, www.Food aid.org.

FAO, AHP (2002) Anti Hunger Programme: Reducing hunger through agriculture and rural development and wider access to food, FAO, Rome.

FAO (1983). World Food Security: a Reappraisal of the Concepts and Approaches. Director Generals Report, .Rome

Snir, Ainit (2015). "The Origin of Cultivation and Proto-Weeds, Long before Neolithic Farming". *PLOS ONE*. **10** (7): E0131422.

Melinda, Z., (2011). "The Origins of Agriculture in the Near .East". *Current Anthropology*. **52** (S4): 221–235

Kris, H., (2019). "Domestication History of Rye". *ThoughtCo*. Retrieved 18 April 2020.

Global Strategic -Committee on World Food Security (CFS) Framework for Food Security & Nutrition (GSF), (2014).( https://www.fao.org/fileadmin/templates/cfs/Docs1314/GSF/GSF_Version_3_EN.pdf)

# Role of Agriculture In The Peace and Stability of Society

Mohammad Yar Malakzai*[1] and Zamaryalia Tani[2]
[1]Assistant Professor and Head of Agronomy Department, Agriculture Faculty, Helmand University, Email: yarmalakzai805@gmail.com
[2]Teaching Assistant, Department of Genetics, Plant Science Faculty, ANASTU Kandahar

## Abstract

This review article was designed entitled (THE ROLE OF AGRICULTURE IN THE PEACE AND STABILITY OF THE SOCIETY), has tried to collect the materials and information of this article in relation to the mentioned topic. New and reliable information has been collected from reliable books, scientific articles, reliable sites and other reliable sources and placed in this article. Food security is the main element of mental and physical health and well-being of a developed society and country. Everyone knows that all the conflicts between individuals, communities and countries are based on the irregular and unbalanced (unbalanced) economic situation. Without food security on the basis of information, there is no the possibilities of economical, technological and scientifical development in any country. Food insecurity leads to political instability, insecurity, chaos, theft and corruption in society and country and even in the world. 21,000 years ago, the cultivation of vegetables for the purpose of profiting from them was popular among the inhabitants of Galilee river. In the Early Stone Age (9500) years ago, the cultivation of some plants such as wheat, barley, peas, lentils, bitter mash and flax was common in Suria. Collected data from wild cereal sources indicate that grains were cultivated at least 105,000 years ago. The Food and Agriculture Organization (FAO) estimates that we start 2022 with 828 million hungry people, 828 million people is not the largest number of hungry people in the world: 2.3 billion people are at low risk of hunger based on FAO estimates. However, they are at risk of food insecurity. This accounts for approximately 29% of the world's population, and according to the FAO's 2019 estimate, in 2020, 3.1 billion people around the world cannot eat healthy food, an increase of 119 million compared to 2019. Hunger affects women the most in terms of gender, as more than 31% of women in the world suffer from hunger, while only 27% of men. Faced with hunger. Hunger also hits children particularly hard: FAO estimates that 45 million children under the age of five are at risk of death. Low birth weight increases the risk of infant mortality and loss up to 12 times. FAO estimates that 149 million children under the age of five are stunted due to lack of essential nutrients and adequate food. But the United Nations predicts that if we do not face such economic losses like natural disasters and the Corona virus, we will be far short of our goal of eradicating hunger by 2030. And he has estimated that 670 million people are still facing hunger, of which 9 million people will die every year due to hunger.

**Keywords:** Agriculture history, Food Security, Food Insecurity

# BOST

Academic & Research National Journal


| Valume | Issue | Year |
| --- | --- | --- |
| 2 | 1 | 2023 |